



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قرآن او تخنيک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د صمیم ادبي ټولنې یادښت

(( قرآن او تخنیک )) د هغه ګلالي کتاب نوم دی، چې ګران رفیع الله ستانکزی پښتو کړی. د دغه کتاب لیکوال شعبان دوغن دی، چې د اسلامي نړۍ له لویو لیکوالو څخه دی. په دغه کتاب د قرآن او تخنیک د تړاو په اړه هر اړخیز بحث شوی او دا پکې ښه په ډاګه شوې، چې قرآن او تخنیک څومره یو له بل سره نژدېوالی لري. دکتاب پر منځپانګې ځکه له ډېر بحث نه تېرېږم، چې د ګرانو لوستوالو هغه تلوسه چې د کتاب په اړه یې لري، کمه نه شي او په پوره مینه او په ډېره لېوالتیا او تلوسې سره یې تر پایه پورې ولولي، خو دومره به ووایم، چې دغه کتاب ډېر ګټور او په زړه پورې دی او هر چاته بویه، چې یو ځلې یې ارو مرو ولولي.
صمیم ادبي ټولنه ویاړ لري، چې د داسې یو غوره او په زړه پورې کتاب په خپرولو لاس پورې کوي.
ګران رفیع الله ستانکزي ته د دغه ارزښتناک اثر د خپراوي مبارکي وایي او په را تلونکي کې ورته د لاپرمختیاوو او د ډېرې حوصلې غوښتنه کوي، څو پر پښتو ژبه دې ته ورته نور غوره او ارزښتناک کتابونه هم ولوروي.

**په مینه او ادب**
**صمیم ادبي ټولنه**
**کابل \ افغانستان**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب ځانګړنې


دکتاب نوم : قرآن او تخنیک

لیکـــوال : شعبان (دوغن)

ژباړن: رفیع الله (ستانکزی)

خپرندوی : صمیم ادبي ټولنه

چاپ شمېر : زرټوکه

د خپرونو لړ: ۲۳

چاپ نېټه : ۱۳۸۷ لېږدیز ـ لمریز

کمپوز او ډیزاین : عبدالله (وردګ)



د ژباړن د ټېلېفون شمېره : 0700308908

برېښنالیک :

rafiullah.stanikzai@gmail.com



**د کتاب ټول حقوق له لیکوال**

سره خوندي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

د نړۍ هغو ټولو مسلمانانو ته، چې اسلام يې په کره مانا پېژندلی!

خپلې درنې کورنۍ ته! چې په ټوله اسلامي مينه يې روزلی يم.

د هېواد هغو عالمانو ته، چې اسلام يې په بشپړه توګه پېژندلی او نورو ته يې په کره بڼه ورپېژني.

رفيع الله ( ستانکزی )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیک

سرلیک — مخګڼه


۱- له سمندره څو سیپۍ ............................................................. ا
۲- قرآن او تخنیک .....................................................................ح
۳- داسې کتابونو ته څومره اړتیا ده...............................................ر
۴- سریزه.......................................................................................ط
۵- په دې کتاب کې به تاسې څه شی ولولئ؟................................ ۱
۶- پیلامه.........................................................................................۵
۷–حضرت محمد (ص) د موندنو په اړه څه وایې؟..........................۸
۸- آیا قرآن کریم بریښنا ته اشاره کړې ؟.....................................۱۱
۹–آیا بې ساه مخلوق خبرې کوي؟................................................۱۵
۱۰–آیا قرآن کریم له لیږدېزو توکو بحث کړی ؟..........................۱۸
۱۱–لومړنۍ بېړۍ چا جوړه کړه؟......................................................۲۲
۱۲- د پرې شوي لاس بیا ورګنډل.....................................................۲۶
۱۳–مړي ژوندي کیږي..........................................................................۲۸
۱۴- د ځمکې ګردوالی..........................................................................۳۳
۱۵–آیا قرآن کریم له اټم څخه بحث کړی دی؟..............................۳۶
۱۶- بیا څنګه ژوندي کیږو؟.................................................................۴۰
۱۷–انسانانو الوتل له چا زده کړل؟......................................................۴۴
۱۸–اتوم بم ته د قرآن کریم اشاره........................................................۴۸
۱۹–د اوسپنې ویلې کېدل مو له چا زده کړل؟...................................۵۱
۲۰- قرآن کریم سپوږمۍ ته پر تګ ګړېدلی........................................۵۵
۲۱–د ابابیل له آلوتونکو د نیوترون تر بمه..........................................۵۹
۲۲- هغه اور چې ونه سوځېده...............................................................۶۳
۲۳–د موسی (ع) امسا............................................................................۶۷
۲۴–پایله..................................................................................................۷۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له سمندره څو سيپۍ

داسلام مبارک دين په کوم ځانګړي قوم، سيمې، وخت، ژبې او توکم پورې اړوند ندی؛ بلکې ټول انسانيت او جنيات د رسالت له لومړۍ شېبې څخه د قيامت تر ورځې ددې سپېڅلي دين له خوږو څخه خوند اخيستلی شي.

اوس چې رسول الله (ص) زموږ ترمنځ نشته؛ نو الله تعالی دا مسؤوليت دهغه امت ته مخ کړی دی، چې اسلام ته خلک راوبولي، دين او نوردين او امت ته اړين علوم؛ لکه ساينس او تکنالوژي هر قوم ته د هغوی په ژبه ورسوي او دنورو له ژبو خپل قوم ته اړين توکي راوژباړي .

دا پر مسلمان فرض ده، چې اسلام د هرې ژبې، هرې سيمې او هر توکم لرونکو ته ورسوي او هغه علوم زده کړي چې مسلمانان پرې له سيالانوسره سيالي وکولی شي؛ نو دا فريضه پرته لدې چې دا دين د هماغوی پر ژبه وژباړو او پرې پوه يې کړو او يا له نورو ژبو خپلې ته څه راواړوو په بل ډول نه ادا کېږي. دې موخې ته رسېدل پر موږ فرض دي او دې موخې ته د نورو د ژبو له يادولو او پر نورو ژبو د دين له ژباړې پرته نشو رسېدلی؛ نو آيا له دې څخه په ډاګه نه ښکاري، چې په هره ټولنه کې د محمدي امت پر يو ټولي د نورو ژبو يادول او نورو ژبو ته د دين ژباړل فرض دي؟ رسول الله فرمايي: ((که يو آيت مو هم زده وي؛ نو زما لخوا يې نورو ته ورسوئ.)) نو کله چې زموږ د نورو ژبه زده نه وي او خپل معلومات ونه ژباړو؛ نو د رسول الله دا امر به څرنګه پر ځای کړو؟

د اصولي فقهې يوه قاعده ده، چې (( مالا يتم الواجب الابه فهو واجب )) يعنې د يو واجب کار د ترسره کولو لپاره، چې د کوم شي يا کار ترسره کول شرط وي؛ نو ددې شرط ترسره کول يې واجب دي.))

هم ديني علوم او هم د اړتيا تر حده دنيوي يا بشري علوم پر هر نارينه او ښځينه فرض دي او ډېر علوم د نورو په ژبو کې دي؛ نو دا پر مسلمانانو فرض دي، چې دا علوم خپلې ژبې ته راوژباړي .

الله ج موږ ته امر کړی دی، چې د اسلام سپېڅلی دين نړيوال کړو، لارښوونې، ګټې او ځانګړتياوې يې خلکو ته روښانه کړو؛ نو کله چې موږ دا لارښوونې او ځانګړتياوې په نورو ژبو ونه ژباړو يا يې ځانته راونه ژباړو؛ نو څنګه به دين نړيوال او نورو ته معرفي کړو؟

رسول اکرم ص دهغه وخت له ظروفو سره سم ژباړونکي درلودل او صحابه و ته يې امر کړی و، چې نورې ژبې زده کړي . ښه بېلګه يې حضرت زيد دثابت زوی دی رسول الله ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

امر کړی و، چې دهغه ژباړن په توګه کار وکړي او د نورو ژبې په ځانګړې توګه سرياني ژبه زده کړي.

رسول الله ص فرمايي چې ( من عرف لغة قوم امن شرهم) يعنې: څوک چې دکوم قوم ژبه زده کړي نو له شر څخه يې په امن شو.

ژباړه ، خلکو ته دين رسول ، له نورو ژبو ګټور ديني او بشري معارف خپلې ژبې او خلکو ته را اړول، يوه ديني او ملي فريضه ده او ښکاره خبره ده، بلنه هغه وخت ښه کيږي، چې دين پر نورو ژبو وژباړل شي .

په نصوصو کې راځي څوک چا ته کومه ښه لار، ښه کار او ښه وينا ور وښيي نو تر څو چې په دې وينا، کار او لار عمل کيږي؛ نو دی يې په اجر کې شريک دی.

که له بلې ژبې څخه د طب، ساينس يا بل کوم ګټور کتاب وژباړو او خلک ترې ګټه پورته کړي؛ نو تر پايه ددې خدمت اجر راکول کيږي. دا يو خدمت دی او رسول الله (ص) فرمايي: ((خيرالناس من ينفع الناس)) تر ټولو غوره شخص هغه څوک دی، چې نورو ته يې ګټه ورسيږي.

په احاديثو کې دا ډول خدمتونو ته د جاريه صدقې نوم ورکړل شوی چې اجرونه يې تلپاتې دي .

په لنډه توګه ويلی شو، چې نورو ته د اسلام رسول، د ديني او بشري علومو(ساينس، تکنالوژۍ، طبيعت او...) زده کړه پر هر نارينه او ښځينه مسلمان فرض دي او دا له ژباړې پرته ناشونې ده؛ نو د دې فورمول له مخې د هرې هغې وسيلې کارول فرض دي، چې فرضو ته له هغې پرته رسېدل ناشوني وي؛ نو ژباړه هم فرض کفايي ده.

له نېکه مرغه په دې وروستيو کې په افغانانو او په ځانګړې توګه په پښتنو ځوانانو کې د ژباړې کلتور دود شوی، ډېرو دردمنو خپلو پښتنو مسلمانو ورونو ته، چې علمي ځولۍ يې د سيمې د نورو ژبو دغبرېدونکو په انډول تشې دي؛ ګڼ ګټور کتابونه وړاندې کړې دي، له دې با احساسه، وېښو، پر دين او هېواد مئينو ځوانانو څخه يو هم ګران رفيع الله ستانکزی دی، چې يو ډېر علمي اوګټورکتاب يې قرآن او تخنيک (چې همدا اوس ستاسې په لاس کې دی) پښتو ته راژباړلی پدې کتاب کې د څو هغو ساينسي پرمختګونو يادونه شوې، چې قرآن ۱٤۰۰کاله وړاندې ورته اشاره کړې خو بشر يې نن په کشف وتوانېد، الله (ج) يو حقيقت ته اشاره کړې د استعارې په بڼه فرمايي، چې قرآن بحر دی او هره وياله ترې له خپل ظرفيت سره سمې اوبه بېلوي يعنې دا د علومو او معلوماتو يو ژور سمندر دی، چې هرڅوک ترې دخپلې پوهې په کچه اخذ او برداشت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو لوی امام فرمایي : جمیع العلم فی القرآن لکن___ تقاصر عنه افهام الرجال. یعنې ټول علوم په قران کې دي؛ خو د خلکو د پوهې کچه ترې کمه ده. زما باور دی، چې د دې او دې ته ورته نورو کتابونو په لوستلو به (په قراني تعبیر) هغه کفار چې زړونه یې د ړانده تعصب د ناروغۍ تورو پردو پوښلي نه وي ایمان راوړي، دنورو آسماني کتابونو د خاوندانو یقین به پیاوړی، دکمزورو مومنانو ایمانونه به پیاوړي او اهل کتاب به شک ونکړي. ما دا کتاب ولوست رښتیا دا دي، چې ډېر مې خوښ شو، منځپانګه او د ژباړې لهجه یې ډېره خوږه او په زړه پورې ده. دژباړې ښه صفت یې دادی، چې ژباړن ټکي پر ټکي ژباړه نه ده کړې او د الفاظو په هوسۍ پسې یې آس ندی ځغلولی. ده هڅه کړې، چې مفهوم راوژباړي او لوستونکو ته معنا وړاندې کړي.

زه په داسې حال کې چې تاسې ته د دې کتاب د لوستلو سپارښتنه کوم ګران ستانکزي ته، چې بېشکه لاهم تنکی ځوان دی، دې دردېدلې ټولنې او له هر لوري غشوته مخامخ دین ( اسلام) ته د نورخدمت او زیار توفیق غواړم .

هیله لرم، چې د حالاتوځټک به د ده د هوډ پرسندان اغیز ونکړي .

درناوی

محمدحسن حقیار

کابل،۱۳۸۷ هجري لمریز دسلواغې ۱۷ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قرآن او تخنیک

قرآن او تخنیک د ګران رفیع الله ستانکزي یوه داسې ارزښتمنه ژباړه ده، چې د قرآني علومو د پوهاوي یوه مهمه او ضروري کړۍ بلل کیږي. د قرآن پېژندنې په برخه کې یوه مهمه موضوع د قرآني حقایقو اثباتول دي، د قرآني حقایقو د اثبات لپاره د هغو دلایلو او براهینو راوړل مهم او لازمي دي کوم چې بني بشر (که هغه مسلم وي یا غیر مسلم) پرې د عقل او بصیرت په سترګو قناعت وکولی شي. هغه څه چې بني بشر پرې قناعت کولی شي هغه په مشاهداتو او محسوساتو باندې د دلایلو بیانول دي (دلیل مشهود) او (دلیل محسوس) راوړل روایت ته قوت او منطق وربښي او ترینه انکار کول نا ممکنه کوي. کله چې دلیل او منطق په روایت کې موجود وي او بیا څوک ترینه انکار کوي، له عقل څخه منافي عمل بلل کیږي. هغه څوک چې د منطق، عقل او بصیرت خاوند وي هغه به کله هم له علمي او عیني حقایقو څخه منکر نشي.

د خدای (ج) پیغمبر (ص) د مکې کفارو ته د الله کلام او قرآني معجزات بیانول او رنګارنګ دلایل یې ورته د خدای (ج) د کلام او پیغامونو د حقانیت په اړه بیانول؛ نو هغوی له باطني اعتراف سره سره بیا هم ترینه انکار کاوه، نو همدا و، چې خدای (ج) ورته وویل، چې دوی د عقل، سترګو او غوږونو باوجود بیاهم ناپوه، ړانده او کاڼه دي.

((لهم قلوب لایفقهون بها و لهم آذان لا یسمعون بها و لهم اعین لایبصرون بها اولیك كالانعام بل هم اضل اولیك هم الغافلون)) ترجمه: دوی ماغزه او عقل لري، خو تعقل پرې نه شي کولی، دوی غوږونه لري، خو پرې اورېدلی نه شي، دوی سترګې لري، خو پرې لیدلی نه شي، دوی د څارویو په څېر دي، بلکې تر هغه هم بدتره دي، دوی غافلان دي.

د قرآن او تخنیک کتاب، د قرآني حقایقو د اثبات لپاره یوه ډېره مهمه او ګټوره هڅه ده، د حق او باطل په جنګ کې د اسلامي دعوتګرانو او دیني مبلغینو لپاره د دې کتاب لوستل او لرل ډېر ضروري بلکې حتمي ده.

ښاغلي ستانکزي په روانه او آسانه پښتو د قرآن او تخنیک کتاب وژباړه او د مقدس ذات د سپېڅلي کتاب د فهم د آسانه کولو یو مهم واجب یې ادا کړ.

زه باور لرم چې ژباړن به د دیني علومو د نورو کتابونو په ژباړې کې خپل زیات زیار او تلاش جاري وساتي او ډېر نور کتابونه به پښتو کړي.

پدې هم پوره باور لرم، چې یوه ورځ به داسې هم راځي، چې د حق د واقعي پلویانو له لورې به د خدای (ج) کلمه او د الله جل جلاله دین تر ټولو لوړ او عالي مقام ته رسیږي، ولو که تر ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړه او مستضعفه ډله یې تر شا وي، ځکه چې دحق کلام همیشه لوړ او بلند دی ((وکلمة الله هی العلیا)).

پدې هم باور لرم، چې باطل د حق په وړاندې له پښو غورځیدونکی دی، ولو که د زمانې تر ټولو مستبد او ابلیسې استکباري لښکرې یې هم ترشا ولاړې وي، ځکه چې دا د الله (ج) وعده ده ((ان الباطل کان زهوقا)).

نو چې داسې ده بیا خو د حق په لار کې حکیمانه او مدبرانه جهاد په کار دی، داسې جهاد چې د اسلام سپېڅلی برم بیا راژوندی او د ټول انسانیت عروج پکې نغښتی وي، هغه عروج چې ټول انسانیت ته نیکمرغي، بریا، پرمختګ، سوکالي، مینه، وحدت، اطمینان او پاکي ور وبښي. د اسلام عزتمآب دین او الهي مقدس احکام یوازینۍ وسیله ده، چې دا هر څه راوړلی شي او بس.

هغه مهال، چې د خدای (ج) حبیب محمد صلی الله علیه وسلم له یوه غاره راووت او ټول بشریت ته یې د نجات، بریا، صمیمیت، مینې، اتحاد، زړه سوي او ترحم رڼا راوړه، نړۍ د جهالت له تیارو څخه نجات وموند، ځکه چې هغه مبارك حضرت، دین د حکمت، تدبیر او الهي نور په وسیلې ګمراه او سرګردانه بشریت ته ورساوه، نن هم بشریت د هوس او جهالت په ړندو تیارو کې لالهاند، ګمراه، سرګردان او ذلیل دی او نجات غواړي. بشریت ته نجات په وینو نه په ترحم باندې کیږي.

نور به خبره پدې لنډه کړم، چې بس سلیم عقل پکار ده؛ تر څو مسلم امت د قرن له دې ((بلاګانو)) او آفتونو وژغوري، د بلاګانو سره جنګ د وینو ویالې او مسلسل هلاکتونه نشي ګټلی، بس عقل او تدبیر غواړي. له جلیل رب څخه اول ځان او بیا ټولو ته سلیم عقل او حکیم تدبیر غواړم. خدای دې زموږ زړونه په الهي نور روښانه کړي.

د ښاغلي رفیع الله ستانکزي پر ژباړې قضاوت د ټولو لوستونکو حق بولم، بس داسې بوله چې ماته دا کتاب او ژباړه ډېره ښه ښکاري، حتماً یې ترپایه ولولئ.

په درنښت
محمدآصف ننګ
پکتیکا، افغانستان
د مرغومې ۲۰مه، کال ۱۳۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

# داسې کتابونو ته څومره اړتیا ده؟

د ډېرې بد مرغۍ ځای دی، چې تل زموږ فکرونه د وخت سیاسیتونو پورې تړلي وي؛ په دې مانا د هرې مفکورې حکومت، چې د ګلۍ واګې په لاس کې واخلي موږ ورسره سم متې رانغاړلي وي او د همغوی له پالیسۍ سره سم خپل قلم چلوو او لیکنې کوو، هېڅکله داسې فکر نه کوو، چې د قلم مانا یانې څه ما او تا ته خدای د څه لپاره استعداد راکړی، کوم مسوولیتونه لرو، بویه څه وکړو او څه کول په کار دي؟ دا او دې ته ورته خورا ډېرې خبرې دي، چې ویل یې په کار دي.

په هر حال داچې د کمونیستي رژیم په وخت کې څه لیکل کېدل، ورپسې د نورو حکومتونو پرمهال چا څه ډول لیکنې کولې او بیا د طالبانو په وخت کې څه وشول، دا به په خپل حال پرېږدو؛ ځکه هغه خبرې پوره وخت او ... غواړي زه یوازې د خپل ګران دین اسلام په اړه څه ویل غواړم. په دې مانا یو مهال طالبان پر دغه خاوره واکمنان شول او دا چې څه یې وکړل، هغه به تاریخ پوهانو او سیاست پوهانو ته پرېږدو؛ خو د هغوی په راتګ سره اسلام ته پاملرنه ډېره واوښته، دا چې په کوم ډول دا به بیا هم پر خپل حال پرېږدو؛ خو چې څنګه د طالبانو واکمني نسکور شوه، سم له واره له اسلام سره هم مخه ښه وشوه او تر ننه پورې دغه لړۍ لا روانه ده، دا چې آر لاملونه یې څه دي، پر دې به هم خبرې نه کوم؛ خو دومره ضرور ویلای شم، چې کله نا کله د یو شمېر وګړو فطرت همداسې وي. تاسې وګورئ اوس مهال څومره ډله ییزې خپرونې، خپرونې کوي او له څو کلونو راهیسې یې دغه ډګر تود ساتلای دی، هر ډول شیان یې، چې زړه وغواړي همغه خپروي او د بیان د ازادۍ په نامه یې په دغو غیرو اسلامي او له انساني کړنو څخه لرې خپرونو باندې ځان بوخت کړای دی. البته زما خبره ټولو رسنیو ته ځیر نه ده؛ ځکه یو شمېر داسې خپرونې شته، چې لږ تر لږه د اسلام په نامه لږو ډېر څه خپروي.

په هر حال په ټول هېواد کې به سړی داسې ټلویزیوني چینل، راډیو، مجله او ورځپاڼه پیدا نه کړای شي، چې هغه دې یوازې اسلام ته ځانګړې شوې وي او اسلامي لیکنې دې خپرې کړي؛ خو اپوټه په فلمي نړۍ کې بیا دا شیان ډېر تر سترګو کېږي، آن اوس_ اوس ځینې داسې ټلویزیونونه هم شته، چې سندر غاړي روزي؛ خو له بده مرغه بیا د اسلام په نامه څه نه پېژني، په داسې حال کې، چې دې نړۍ ته زموږ د راتګ آر لامل اسلام پالل، اسلام کول او اسلام ښوول دي.

یو مهال راسره دا ویره پیدا شوې وه، خدای مه کړه داسې نشي، چې موږ هم د ځینو په نامه اسلامي هېوادونو په څېر په نامه مسلمانان پاتې شو او که څوک زموږ په مخ کې لمونځ وکړي؛ نو ورته به وایو، چې یو مهال دغه کار زموږ نېکونو او نیاګانو هم کولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو اوس چې کله مخ يوه خوا او بله خوا واړو را واړو؛ نو بېرته مو دغه فکر له ذهن څخه ووځي؛ ځکه لا داسې ځوانان شته، چې اوس هم له اسلام سره مينه لري، اسلام پالي او اسلام کوي. په داسې وخت کې، چې د ټولنې ډېرى ځوانانو په شاړو لارو روان وي په هغې ټولنه کې يوازې پر ځان اسلام کول هم لويه خبره ده، نورو ته اسلام ور ښوول خو لا پر ځاى پرېږده.

په هر حال ستاسې په لاس کې دغه پروت کتاب هم زموږ د روڼ او ارزښتناک دين يو کوچنى غوندې بېلګه ده، چې د مسلمانانو لپاره په کې ډېر څه شته، دا کتاب يو داسې اسلامي لارښوود، دى چې د ډېرو منکرو وګړو او له اسلامي چوکاټه بې لارو شويو ته د حقيقت لار ښوولاى شي. تاسې به اورېدلي يا ليدلي وي، چې ډېرى غير مسلمان وګړي د ځينو شيانو کشفول، لکه اوسپنه، سره زر، سپين زر، مس، تخنيک، پرمختګ، ژوند کولو لارې چارې او دې ته ورته شيان د ځان پورې تړي په داسې حال کې، چې ددغو ټولو شيانو په اړه الله (ج) نږدې څوارلس نيم سوه کاله پخوا په خپل بې جوړې او آسماني کتاب قرآن عظيم شان کې فرمايلي دي او د هرې خبرې وړاندوينه يې کړې ده.  د لومړي ځل لپاره د تخنيک په نامه ښکارنده مسلمانانو کشف کړه، چې هغه ساعت و، ډېرى غير اسلامي وګړو داسې ګومان کاوه، چې مسلمانانو په دې څيز "ساعت" کې له جادو او سحر څخه کار اخيستى دى او يا يې په کې پيريان ايسار کړي دي؛ خو نن هماغه خلک هر څه د ځان پورې تړي.

رښتيا هم، چې اسلام ډېر لوى دين دى او د هر چا لپاره په کې د هغه له مسلک سره سم مواد شته. د اسلام مبارک دين مهرباني کوي، چې تاسې په ورځ کې له الله ج سره پنځه ځلې خبرې وکړئ؛ په دې مانا چې د الله ج عبادت وکړئ او لمونځ وکړئ؛ خو غير اسلامي نړۍ دا خبره اوس زباد کړې ده، چې د انسان په وجود کې يو ډول منفي زرات دي، چې د وخت په تېرېدلو سره د انسان سر ته خېژي او ورو ــ ورو انسان ته د سر خوږې ناروغي پيدا کوي او که چېرې په وخت سره د هغې درملنه ونشي؛ نو کېدون لري، چې د بدن د غړو د فلج کېدلو لامل شي او د رنځورپوهانو په وينا يې دغه ناروغۍ ته تر اوسه لا درمل نه دي پيدا شوي او يوازې يو درمل لري، چې هغه خاوره ده؛ يانې وايي که چېرې څوک په دغې ناروغۍ اخته شو، هغه کس دې تر لسو دقيقو پورې پر ځمکه سر کېږدي، البته يوازې تندى. دوى وايي ځمکه يا خاوره يو ډول مثبت چارجونه لري، چې د تندي همدغه منفي چارجونه، چې د انسان د سرخوږۍ لامل کېږي له منځه وړي؛ خو لا اوس هم په دې نه دي ګروهمند شوي، چې اسلام ددغو ټولو شيانو وړاندوينه سوونه کاله وړاندې کړې وه او لا اوس هم په خپل کفري نيلي آس سپاره دي. همداسې د اسلام نورې برخې هم در واخله.

په هر حال دغه کتاب، چې د پښتو ژبې تکړه ليکوال او لاس بري ژباړن رفيع الله ستانکزي ژباړلاى، ډېر ګټور، ارزښناک او د لوستلو وړ دى، زما په اند ددغه کتاب لوستل ټولو مسلمانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته اړين دی؛ ترڅو په هغو حقيقونو خبر شي، چې تر اوسه پورې لا نه دي خبر او دوی هم داسې فکر کوي، چې د پورته شيانو يا توکو کشف کوونکي او بانيان غير مسلمانان دي. دغه کتاب سربېره پر دغو ښېګڼو نورې خورا ډېرې ښېګڼې هم لري، چې د ټولو بيانول يې زما له وسې وتلې خبره ده؛ خو زه به يې له خپلو سترګيو څخه دغو څو ښېګڼو ته نغوته وکړم:

✍ ژبه يې روانه ده، د ولس ژبه ده او په ژباړه کې هم له تکلف څخه کار نه دی اخيستل شوای.

✍ کوښښ نه دی شوی، چې د ژباړې د آرونو ملا ماته کړي او يا هم ټکی په ټکی ژباړه وکړي؛ بلکې څنګه ژباړه، چې په کار وه هماغسې ژباړه شوې ده.

✍ ژباړه د ملايانو ژباړه نه ده؛ بلکې خپله ژباړه يې ده؛ په دې مانا که چېرې د ملايانو ژباړه سړی ولولي؛ نو ليکلي يې وي، چې خدای ج انسان نه دی پيدا کړای؛ خو پيدا کړای يې دی لپاره د عبادت؛ يانې قيد کاروي، خو ډېر بې ځايه او همدا لامل دی، چې اوس ډېری تفسيرونه هغه کسان ليکي، چې د دين په برخه کې يې مسلکي زده کړې نه وي کړي، که څه هم دين زموږ د ټولو مسلک دی؛ خو هغه څوک، چې په همدغه برخه کې په رسمي کچه زده کړي کوي هغسې زده کړې يې نه وي کړي.

✍ کوښښ شوی، چې په ژبه کې د پردۍ ژبې وييونه ونه کارول شي؛ ځکه بې اړتيا د بلې ژبې د وييونو کارول د ليکوال يا ژباړن کمزوري او له آرې سکالو څخه تېښته ده، له نېکه مرغه دغه نيمګړتيا په ګران ستانکزي که نه ليدل کېږي.

✍ ټکی په ټکی ژباړه هم آره منځپانګه زيانمنوي، چې له نېکه مرغه دغه ژباړه له دغو نيمګړتياوو څخه ژغورل شوې ده او پوره زيار يې ګاللې، چې د ده په ژبه کې آرې منځپانګې ته زيان ونه رسېږي.

په پای کې تکړه ليکوال، خوږ ژبي ژباړن او مسلمان ورور رفيع الله ستانکزي ته د دغه قيمتي او ارزښتناک اثر د ژباړلو مبارکي وايم او د لوی الله (ج) سپېڅلي دربار ته لاسونه لپه کوم، چې په ګانده نور داسې ګلالي او فرهنګيالي ځوانان هم زموږ په ټولنې ولوروي او دغه ګړيدلی ولس له نااسلامي لارو ګودر، څخه د تل لپاره د جبرئيل امين په وزرو کې خوندي وساتي او د خپل سپېڅلي کتاب پر لوستلو يې د تل لپاره زړه روښانه او ژوند سوکاله کړي.

آمين يا رب العالمين

سيدنظيم سيدي

د افغانستان ملي شورا

ولسي جرګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

بې له شکه د الله (ج) دا معجز کتاب، چې خپل ټول منکر يې ننګولي، چې تاسې د دې کتاب د يو آيات په اندازه يو بل آيات راوړئ؛ تر دې دمه د قرآن له دې ننګونې ټوله نړۍ عاجزه ده او عاجزه به وي، د الله (ج) دا معجز کتاب او د دې کتاب علمي  معجزې به تر قيامته پورې وي.

په قرانکريم کې چې کومې علمي اشاري شوي دي په کار ده، چې د هغه تفسير د تجربې له علم سره وشي؛ ځکه علمي نظريې بدلون مومي او هر کله چې د علم ثابته تجربه تر لاسه شي؛ نو هغه به هيڅکله د قرانکريم خلاف نه وي.

ننۍ پرمختللې نړۍ له خپل هر اړخيز پرمخيون سره بيا هم د قرآن کريم ارشاداتو ته پناه وړې او د وروستي آسماني کتاب په لارښوونو عمل کوي، چې د برياليتوب لوړې پوړۍ ووهي.

د دې ټولو خبرو زبات (ثبوت) اسلام ته د نورو اديانو د لويو لويو مفکرينو او پوهانو را اوښتل دي او د همدې وېرې له کبله کفري نړۍ د اسلام د خپراوي د مخنيوي لپاره بېلابېلې لارې غوره کړي، چې زموږ مشر – کشر او راتلونکی نسل ټول له خپله دينه ناخبره کړي او په نورو لهو و لعب يې بوخت کړي؛ لکه څنګه، چې زموږ او د نورو مسلمانو هېوادونو ډېری ځوانانو د فېشن پرستۍ او ... ښکار شوي او له خپله دينه ناخبره پاتې دي، زموږ او نورو ټولو مسلمانو ليکوالو، پوهانو او عادي وګړو دا دنده ده، چې ناخبره وګړي د اسلام له ستر توب او بشپړتوب نه خبر کړو او هغوی په سمه لار تګ ته وهڅوو.

د دغه کار پيل شوی او ان شاالله روان به وي، له دغو ډلو څخه يو هم د ترکيې ستر ليکوال او عالم شعبان دوغن دی، چې دا کتاب يې په ټوله مينه او ځيرکۍ ليکلی دی.

د شعبان (دوغن)  دا کتاب ډېر ګټور دی په ډېرو خاصو مسايلو را څرخي او لوستونکي ته پوره بيداري ور کوي.

قرانکريم يو الهامي کتاب دی هر چا چې پرې عمل او فکر وکړ په ريښتيا سره به د فکر خاوندان ترې ډېر څه واخيستلای شي. د الله (ج) په کلام او کايناتو باندې فکر کول د قرانکريم امر دی؛ نو راځۍ، چې د خدای (ج) کلام په ټوله مينه ولولو، ځان پرې پوه کړو او نورو ته يې وروښيو.

قرآن کريم يوازې يو مذهبي کتاب نه؛ بلکې د ټولو علومو په اړه په کې په وړ اندازه بحث شوی. خو له بده مرغه موږ دغه مقدس کتاب ته يوازې د مذهبي کتاب په توګه کتلي او په هر کور کې مو په تاخچه کې ايښی، يوازې ورنه د دم، دعا او وېرې پر وخت کار اخلو.

موږ بايد د قرآن کريم په  هر آيت په بشپړه توګه پوه شو، خو له بده مرغه موږ يې يوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لولو! او فکر پرې نه کوو، راځی، چې په ډېر ژور فکر يې ولولو او ټولو باريکيو ته يې ښه ځير شو. د همدغو د پوهېدلو په پار مې د دې کتاب ژباړلو ته زړه ښه کړ او په ډېرې مينې او پاملرنې سره مې ژباړلی.

تر خپله وسه مې د کتاب په ژباړلو کې له ډېر دقت څخه کار اخيستی او تر ډېره ځايه مې زيار ايستلی، چې ژباړ ساده او ټولپوهه وي.

له درنو استادانو او پوهانو هريو صميم صاحب، حقيار صاحب، ننګ صاحب او سيدي صاحب نه نړۍ مننه کوم، چې په ډېره مينه يې زما ژباړلی اثر لوستی او لارښوونې يې په ما لوروليې.

يوه يادونه اړينه بولم، چې په دې کتاب کې مې د قرآن کريم د ټولو آيتونو ژباړه له هغه قرآن کريم نه، چې له پښتو ژباړې سره د نفيس ټولنې له خوا چاپ شوی را اخيستې، ترڅو د قرآن کريم مانا په سمه توګه راوړل شي.په پای کې د ټولو لوستونکو څخه دا هيله لرم، چې په خپلو دعاګانو کې مې هېر نه کړي او خپلې لارښوونې، وړانديزونه او رغنده نيوکې رانه ونه سپموي.

په ټوله اسلامي مينه

رفيع الله ستانکزی
کابل – کارته نو
دوه نۍ – د سلواغې ۲۱ مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په دې کتاب کې به تاسې څه شی و لولئ؟

د دې کتاب په لوستلو سره تاسې کوم ګټور معلومات ترلاسه کولای شئ؟
که چېرې تاسې وپوښتل شئ، چې آیا قرآن کریم د ریل ګاډي، الوتکو، اټم، تلویزون، برېښنا او دې ته ورته نورو څیزونو او اختراعګانو په اړه بحث کوي؟
دا پوښتنه تاسې څنګه ځوابولای شئ؟ که ځوابولای یې شئ؛ نو باید توضیح یې کړئ او د دغه شان مسایلو توضیح دومره اسانه نه ده، که چېرې مو ځواب (نه) وي، د قرآن کریم له مانا څخه لرې شوئ او قرآن کریم به مو ناسم ورپېژندلی وي او که چېرې پوښتنې ته هېڅ ځواب ورنه کړئ، نو هغو کسانو ته به، چې له قرآن کریم څخه انکار کوي؛ ښه موکه (فرصت) په لاس ورکړئ.
د قرآن کریم د ځینو آیتونو په شرح کې وینو، چې نني نوښتونه او اختراعګانې د قرآن کریم د لارښوونو په رڼا کې ترسره شوې دي؛ قرآن کریم د الله (ج) کتاب دی او د ټول بشریت د لارښوونې لپاره رالیږل شوی دی او تر قیامته پورې به د ټولو بېلابېلو ټکنالوژیکي دورو او نورو ځواب ورکوونکی وي.
موږ باید داسې فکر ونه کړو، چې دا ټول نوښتونه او اختراعګانې له قرآن کریم سره هېڅ تړاو نه لري؛ د هر شي په اړه په وړ اندازه بحث شوی او انسانان، چې هره علمي پلټنه کوي، په قرآن کریم کې یې پیدا کولای شي.
داسې فکر کول ناسم دي، چې قرآن کریم یوازې یو فني او صنعتي کتاب دی؛ بلکې د هر علم په اړه یې پوره بحث کړی دی. که په هره موضوع یې په تفصیل سره بحث کړی وای؛ نو لږ تر لږه به څلوېښت یا پنځوس او یا تر دې لا هم ډېر جلدونه به یې وای.
هغه وخت، چې قرآن کریم نازل شو، د هغه مهال انسانانو د نننۍ ټکنالوژۍ په اړه په خپل ذهن کې داسې خاکه هم نه شوه جوړولای، که چېرې هغوی ته په څرګند ډول د برېښنا، الوتکو، تلویزون او .... په اړه بحث شوی وای، نو د هغوی په فکر کې یې سم ځای نه شو نیولای او پایله به یې هېڅ هم نه وای او انکار به یې کړی وای، چې له قرآن کریم څخه انکار کفر دی او همدا ډول قرآن کریم باید د اوسمهال د انسانانو لپاره هم لارښود وي، یانې قرآن کریم د هغو انسانانو لپاره، چې ۱۴۰۰ کاله وړاندې یې ژوند کاوه او د هغو انسانانو لپاره، چې اوس ژوند کوي او د راتلونکو انسانانو لپاره خطاب دی، نو ځکه په کې دا ټول مهالونه په پام کې نیول شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په قرآن کريم کې داسې اشارې او نغوتې شته، چې د وخت د انسانانو له پوهې او درک څخه لرې دي او د قرآن کريم له اعجازونو څخه يو اعجاز همدا دی.

مسلمانان پخوا پر دې حقيقت پوهېدلي او د ځينو نورو دينونو پلیوني (پيروان) هم له دې حقيقت څخه خبر شوي دي او ترې ګټه اخلي.

سترخېړونکي او مشهور لامبوځن (کوسټو)، لومړنی انسان، چې پر سپوږمۍ يې پل ايښی (نيل ارمسټرانګ)، مشهور فرانسوي عالم (روجرګراډي) او ډېر نور له دې حقيقته خبر شوي او پرې پوه شوي او يو په بل پسې مسلمانان شوي دي.

قرآن کريم له سره تر پايه يوه ستره معجزه ده، چې د دغه ستر اسماني کتاب په ځينو آيتونو کې اټوم، نېوټرون، تلويزون، برېښنا، الوتکې او نورو ورته اختراعګانو او نوښتونو ته اشاره شوې ده.

د بېلګې په ډول په هوا کې د سليمان (ع) پرواز کول، الوتکې ته اشاره ده، له موره د ړانده اولاد بيا سترګورول، د بدن د غړو لېږدولو يا بدلولو ته اشاره ده، په اور کې د ابراهيم (ع) نه سوځېدل اور ضد کاليو او اور وژونکو کسانو ته اشاره ده.

الله (ج) دغه ټولې معجزې خپلو پيغمبرانو ته ورکړي دي، خو له هغو انسانانو څخه يې، چې په هر پېر (دور) کې ژوند کوي؛ غوښتي، چې دغه معجزې ځان ته بېلګې وګرځوي او زيار وباسي، چې د دغو معجزو په رڼا کې نوي نوښتونه او اختراعګانې وکړي.

ويل کيږي، چې د اډېسون[1] تر مرګه وروسته د هغه له الماری څخه د قرآن کريم د (نور) سورت ځينې آيتونه پيدا شوي دي؛ له دې داسې انګېرل کيږي، چې اډېسون هم د ګروپ د اختراع کولو لپاره قرآني لارښوونو ته پناه وړې او په پايله کې يې د ګروپ پر جوړولو بريالی شوی دی.

په هغه صورت کې د دې خبرې زبات، چې قرآن کريم دغو ټولو نننيو اختراعګانو او نوښتونو ته اشاره کړې کولای شو، چې موږ قرآن کريم په ښه ډول تلاوت کړو او پر مانا يې ځان پوه کړو.

---

[1]- اډېسون په اوهايو کې په کال ۱۸۴۷ زېږدي کې پيدا او په ۱۹۳۱ زېږدي کې مړ شوی دی، د خپل ژوند په موده کې يې تر ۱۰۰۰ ډېرې اختراعګانې کړې، چې د امريکا دولت يې هر کال د تلين پر ورځ د هغو خدمتونوله امله، چې د برېښنا په اړه يې کړي د يوې يا دوو دقيقو لپاره تياره جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیلامه

د فضا په اړه کتابونو کې به مو لیدلي وي، چې انسانان او د هغو د چاپېریال پر شیانو د یو ډول وړانګو په خوروولو سره له یوځایه بل ځای ته لېږدول کېږي.

آیا تاسې فکر کړی، چې د دې وړانګو منځی (مرکز) څه شی دی؟ باید وویل شي، چې د الله (ج) کتاب قرآن کریم دی. د نمل سورت همدارنګه یوه کیسه بیانوي:

حضرت سلېمان (ع[2]) د خپلې پیغمبرۍ پر وخت یو واکمن هم و، داسې واکمن، چې د هغه ویناوې به ټولو ( انسانانو، پېریانو، بوټو، بادونو، اوبو او نورو) اورېدې او پر هغو به یې عمل کاوه.

یوه ورځ حضرت سلېمان (ع) له یوې واکمنې ښځې، چې په یمن کې به یې له ټولو نورو پلیونیو (پیروانو) سره د لمر عبادت کاوه، خبر شو؛ د یوه استازي په ورلېږلو یې هغه د یوازیني خدای عبادت ته راوبلله.

بلقیس د سلېمان نوم ډېر اورېدلی و، غوښتل یې، چې هغه ووینې، د تللو هوډ یې وکړ او دوې یا درې میاشتنی سفر یې پیل کړ.

له بله پلوه د انسانانو او پېریانو پاچا سلېمان (ع) وغوښتل، چې بلقیس ته یوه داسې معجزه وروښيي، چې په لیدو یې هغه باید د لمر له عبادته لاس واخلي. د خپلې سیمې ځیرک او مخور پوهان یې راغونډ کړل.

سلېمان (ع) دوی ته وویل: څوک به ماته د بلقیس تخت راوړي؟

د پېریانو له ډلې څخه یوه ډېر ځیرک پیري وویل: ترڅو، چې تاسې پورته کېږئ، زه به د بلقیس تخت ستاسو حضور ته راوړم؛ خو تاسو امر وکړئ.

یوه عالم ، چې د سلېمان (ع) له خپلوانو څخه و، وویل: زه به د بلقیس تخت د سترګو په رپ کې درته راوړم.

کله چې خبرې بشپړې شوې، د بلقیس سینګار شوی تخت یې د حضرت سلېمان (ع) مخې ته ایښی و او هر چا به په ډېره حیرانتیا سره ځلاند او پسوللي تخت ته کتل.

انسانانو د دغې معجزې په لیدلو څېړنې پیل کړې؛ ځکه، چې الله (ج) انسانانو ته بېلګه ورکوي او انسانان بیا پر هغو بېلګو څېړنې او کار کوي. الله (ج) هوا داسې پیدا کړې، چې د راډیو[3]،

---

[2]- حضرت سلېمان (ع) د داوود(ع) تر ټولو کوچنی زوی دی، چې د خپل پلار تر مړینې وروسته یې د بني اسراییلو سیاسي او مذهبي مشري پر غاړه واخیسته.

[3]- ګوګلیل مارکوني (Gugliel Marconi) یو ایټالوي عالم دی، چې په بلوګنا (Blogna) ښار کې پر (۱۸۷۴ زېږدي) زېږېدلی، په (۱۸۹۵ زېږدي) کې یې راډیو اختراع کړه او په (۱۹۳۷ زېږدي) کې مړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تلویزون او نورې څیې له یوه ځایه بل ځای ته لیږدوي، انسان باید دغو لارو او کړنو ته په پام فکر وکړي او د ګټې اخیستلو لارې چارې ترې زده کړي.

د وخت په تېرېدو سره انسانانو ټېلیګراف[4]، ټیلیفون[5]، راډیو، تلویزون او نور اختراع کړل.

خو تر اوسه پورې هغه برید ته، چې په معجزه کې ښوول شوي وو، نه دي رسېدلي او خپل زیار او کار ته یې په دې ډګر کې دوام ورکړی او تر اوسه علماً څېړنې کوي.

تر ډېرو کوښښونو او زیارونو وروسته یې وکړای شول، چې د انسانانو څېرې او فلمونه د وړانګو په خپرولو سره له یوه ځایه بل ځای ته ولیږدوي او تر اوسه هم د ځینو وروسته پاتو ټولنو د وګړیو په اند دا کار له حقیقته لرې دی.

یوازې دا نه، چې د تلویزون پر پرده دې یو څوک ښکاره شي، د قرآن کریم هغو اشارو ته مو پام کیږي، چې په دې اړه یې تر دې پخوا یادې کړې دي، بلکې کېدای شي، چې په راتلونکې کې یو څوک جسماً له یوه ځایه بل ځای ته ولیږدوي. ټولو هغو علمي مسلو ته، چې قرآن کریم اشاره کړې، په علمي ډګر کې وي او که په بل ډګر کې؛ باید په رڼا کې یې څېړنې وکړو او ځان خپلو سپېڅلو موخو ته ورسوو.

---

[4]- لومړنی برېښنایي ټیلیګراف، چې پر (۱۹۳۷ زیږدي) کال په امریکا کې د سامیول مورس ( Samuel Morse) له خوا جوړ شو.

[5]- لومړنی ټیلیفون د الکسنډر ګراهام بل (Alexander graham bell) له خوا پر (۱۸۷۶ زیږدي) کې جوړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حضرت محمد (ص) د موندنو (کشفونو) په اړه څه وايي؟

حضرت محمد (ص) په هره موضوع کې زموږ لارښود دی، موږ ته د دواړو نړیو د بریالیتوبونو لاره ښيي، د الله (ج) رسول (ص) زموږ د نېکمرغۍ په اړه فرمايي: په نړۍ کې د دنيا لپاره داسې کار وکړه، لکه هېڅ چې نه مرې او د آخرت لپاره داسې کار وکړه؛ لکه سبا چې مرې.

(له زانګو تر ګوره، علم زده کړه) (د بې ګټې کار پر ځای د الله (ج) ذکر وکړئ او ګټور علم زده کړئ).

دا يو رښتينی حقيقت دی، چې د الله (ج) د رسول (ص) په پېر (دور) کې نه برېښنا وه او نه ګازي څراغ، دوی به د خرما د پاڼو يا ښاخونو په سوځولو خپل کور رڼاوه او د هغو په رڼا کې به يې لمونځونه کول.

يوه ورځ نبوي جومات ته يو څراغ راوړل شو، چې تر هغه وخته پورې چا نه و ليدلی؛ لاندې به يکې تېل اچول کېدل او په منځ کې به يې يوه پلته ځوړنده وه، چې شا او خوا به يې رڼا خپروله؛ هر چا به په ډېره حيرانتيا سره ورکتل؛ ځکه، چې تر هغه وخته پورې هېچا داسې شی نه و؛ ليدلی.

څه وخت وروسته حضرت محمد (ص) جومات ته راغی او څراغ يې وليد؛ نو په مبارکو شونډو يې وموسل او ويې پوښتل: دا چا راوړی دی؟

اصحابو کرامو وويل: زموږ ورور تميم داري له شام څخه راوړی دی. تميم داري له حضرت محمد (ص) سره نژدې ناست و،  د الله ستر پيغمبر نور هم ورنژدې شو او ورته يې وفرمايل: اې تميم داری! خدای دې له تاسې څخه خوښ شي؛ لکه څنګه  چې دې زموږ جومات روښانه کړ، همداسې  به الله (ج) ستا روح او جسم روښانه کړي.

د څراغ په رڼا کې يې خپل لمونځونه وکړل؛ کومه خوښي، چې دغه څراغ خلکو ته وربښلې وه، لا هماغسې يې دوام درلود، حضرت محمد (ص) د تميم داری څنګ ته ورغی او ورته يې وفرمايل: اې تميم داری! موږ دې دومره خوښ کړو، که بله لور مې درلودلای: نو هرو مرو مې در په نکاح کوله.

حضرت محمد (ص) نه يوازې تميم داری ته مبارکي ورکړه؛ بلکې ټول اسلامي امت يې نويو برسېرونو او نوښتونو ته هڅولی؛ لکه څنګه، چې په يوه حديث شريف کې راغلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(د انسانانو ترمنځ تر ټولو غوره هغه څوک دی، چې نورو انسانانو ته يې ګټه ورسيږي). د الله (ج) رسول (ص) به تل د انسانانو پام ګټورو شيانو او يو بل ته د ګټې رسولو لپاره اړاوه.

د حضرت محمد(ص) هڅونې د مسلمانانو سره ملې وې، چې علم زده کړي او نوي شيان رامنځ ته کړي؛ د نړۍ د مدنيت او د علم لارښوونکي مخکښان او مشران شي.

اروپايانو د اندلوس اموي دولت او نورو اسلامي دولتونو ته په کتلو د رُنسانس بنسټ کېښود.

څه موده کيږي، چې دا کار پرعکس يا سرچپه شوی دی، هغه شيان، چې اروپايانو له مسلمانانو زده کړي و، هغو ته يې پرمختيا او پراختيا ورکړه او په دې توګه يې د نن ورځې د علم لوړې پوړۍ وهلي دي.

نو موږ مسلمانانو ته هم اړين دي، چې د علم او تخنيک د پرمختګ لپاره زيار وباسو او د نړۍ تر نورو وګړو وروسته پاتې نه شو او ور سره غاړه غړۍ او يا هم مخکې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آیا قرآن کریم برېښنا ته اشاره کړې؟

ورېځې د طبيعي برېښنا منځی (مرکز) دي، ورېځې د برېښنا پيدا کوونکې دي او قرآن کريم برېښنا او تالندې ته په ډاګه او ځرګنده نغوته (اشاره) کړې ده.

زموږ په منځ ته راتلو هر شی منځ ته راځي، له يوه لوري د مور له تيو څخه شيدې روانيږي او له بله پلوه نور اړين توکي ؛ لکه کالي.... راته برابريږي. هرشی زموږ د لويېدو لپاره تيار شوی ، په دې نړۍ کې د يو ماشوم په توګه ژوند کوو. هره ورځ لمر زموږ لپاره راخېژي او ښکته کيږي، اوبه زموږ لپاره بهيږي، ژوي او بوټي زموږ لپاره کار کوي، ليدل کيږي، چې پاک خدای (ج) زموږ د ژوند کولو لپاره ډېر شيان زموږ تر امر لاندې راوستي دي.

الله (ج) موږ ته روزي راکوي او يوازې په تنبلی باندې د نه روږدتيا لپاره يې موږ ته د کار کولو امر کړی دی. پټی کولبه کوو، تخم په کې شيندو، اوبه ورکوو، پالنه يې کوو...... او نور. که چېرې دا ځيزونه تيار جوړ وای، نو آيا موږ به ننني پرمختګ ته رسېدلي وای.

انسانانو په خپل زيار سره د نړۍ ننۍ مدنيت جوړ کړ؛ که چېرته موږ ته هرشی لکه اوبه، برېښنا، هوا او نور موجود وای، نو آيا کولای مو شول، چې د نړۍ ننني پرمختګ ته ورسيږو؟

پاک الله (ج) د قرآن کريم په نور سورت کې داسې فرمايلي دي:

اللَّهُ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ مَثَلُ نُورِهِ كَمِشْكَاةٍ فِيهَا مِصْبَاحٌ الْمِصْبَاحُ فِي زُجَاجَةٍ الزُّجَاجَةُ كَأَنَّهَا كَوْكَبٌ دُرِّيٌّ يُوقَدُ مِن شَجَرَةٍ مُّبَارَكَةٍ زَيْتُونَةٍ لَّا شَرْقِيَّةٍ وَلَا غَرْبِيَّةٍ يَكَادُ زَيْتُهَا يُضِيءُ وَلَوْ لَمْ تَمْسَسْهُ نَارٌ نُّورٌ عَلَى نُورٍ يَهْدِي اللَّهُ لِنُورِهِ مَن يَشَاءُ وَيَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ وَاللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ(۳۵)

ژباړه: الله (ج) د آسمانونو او ځمکې نور (روښانونکی) دی، د هغه د نور مثال داسې دی، لکه يوه روڼه تاخچه کې، چې ډيوه وي، ډيوه په يوه شيشه کې وي، شيشه هم داسې لکه يو ځلېدونکی ستوری، چې (هغه ډيوه) د ښوون د کومې داسې برکتي ونې (له تېلو) بله شوې وي، چې هغه نه ختيزه وي، نه لوېديزه، نژدې وي، چې تېل يې په خپله رڼا وکړي، که څه هم اور ورته نه وي رسېدلی، (داسې چې) د رڼا له پاسه رڼا وي. چاته چې د الله (ج) خوښه شي د خپل نور خواته يې لارښوونه کوي او الله (ج) خلکو ته همداسې مثالونه بيانوي او الله (ج) په هرشي ښه پوه دی.

لکه څنګه، چې د قرآن کريم هر آيت د ډېرو ماناوو درلودونکی وي، دا آيت هم ډېرې ماناوې لري، خو موږ يې پر نورو ماناوو خبرې نه کوو او نه هم زما استعداد د دې اجازه راکوي، چې نور ډېر څه پرې ووايم؛ خو په دې ځای کې هغه علمي ټکي ته، چې اشاره شوې؛ يو څه ځغلنده نظر کوو:

له پورتني آيت څخه ستاسې پاملرنه دې بدلونو ته را اړوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځراغ په ښيښه کې او ښيښه يې د ساتونکې په څېر ده، او دننه يې ځراغ دی.
که اور هم ورته ونه رسيږي، رڼا کوي.
ياني داسې يو شی کيږي، چې پرته له اوره رڼا ورکوي او د يوه ستوري په څېر رڼا خپروي.
پورتني آيت شريف د نورو ماناوو ترڅنګ برېښنا ته هم اشاره کړې؛ لکه چې انسان ته يې فرمايلي دي:

اې ! انسانانو هغه اله چې په قرآن کريم کې يې ځانګړنې بيان شوې، جوړه کړئ او له هغې څخه ګټه واخلئ.

انسانانو د قرآن کريم د دې اشارې په هکله کار او څېړنه وکړه، د برېښنا جريان او هغه ګروپ يې چې برېښنا پر رڼا اړوي وموند، خو د برېښنا له موندنې څخه وړاندې هم برېښنا وه، هغه مهال تالنده او تنا هم وه او کله چې خپل لاس د پيشو پر ... (تنا) وموښو، بيا هم برېښنا جوړيږي.

پوهانو او عالمانو ډېر لږ د خدای (ج) اسرارو ته لاره پيدا کړې او د هغو په رڼا کې يې لږه څېړنه کړې؛ دا څېړنه او کار تر اوسه هم روان دی.
يوه پوښتنه مو د ذهن پر پرده ځان راښکاروي:

برېښنا او ګروپ ته چې په قرآن کريم کې اشاره شوې، هغه مسلمانانو نه؛ بلکې کافرانو جوړ کړي، ولې؟

ځکه چې الله (ج) د عالميانو رب دی، د تخنيک په برخه کې يې د مسلمان او کافر توپير نه دی کړی او د هغه څېړونکي ته پوهه او پايله ورکوي.

که چېرې موږ د الله (ج) د هغو امرونو په اړه، چې په قرآن کريم کې يې فرمايلی دي؛ که مو په دغو امرونو عمل کړی وای او له دغو ارشاداتو مو څه زده کړي وای او د هغو په اړه مو څېړنه کړې وای، نو ډېر نوښتونه او اختراعګانې به مو سرته رسولې وای؛ لکه څنګه چې تاسې پوهيږئ، مسلمانانو قرآن کريم خپل ځانته د رڼا په څېر د سمې لارې د پيدا کولو لپاره ونيو، نو پرمختګ يې وکړ او د مدنيت مخکښان شول او په دې ډګر کې يې اروپايانو ته لاره ورښوولې ده.

يوه مسلمان له يوه انګريز موندونکي څخه په لندن کې وپوښتل، چې: تاسې څنګه پر دومره موندنو او اختراعګانو بريالي شوئ؟ هغه انګريز قرآن کريم ته اشاره وکړه او ويې ويل: ستاسې کتاب لولم او په هره لاره کې يې چې اشاره کړې څېړنه کوم، چې د سترو برياوو سره مې دومره موندنې ترسره کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آیا نور (بې ساه) مخلوق خبرې کوي؟

کله چې داوود (ع) د زبور آیتونه لوستل، نو غرونه، تیږې، بوټي او ژوي به په خبرو راتلل او د هغه وینا به یې یو ډول تکراروله.

آیا تاسې توتي لیدلی؟ لیدلي به مو وي، چې توتي د انسان خبرې زده کوي او په ځوواري یې تکراروي هم، له همدې کبله انسانان توتي ډېر خوښوي.

عالمانو توتي د ټیپ د جوړولو لپاره بېلګه ګرځولې، خو په یوه توپیر:

توتي ویل شوې خبرې په خپل مغز او ټیپ یې په کیسټ (پټه) کې ثبتوي. د الله (ج) او د انسان په جوړونو کې خو ډېر توپیر وي، چې یو ساه کښ او بل بې ساه ، خو خبرې دواړه کوي. ډېر وخت شوی، چې له ټیپ څخه ثبتې شوې خبرې اورو او ورسره روږدي شوي یو د همدې لپاره موږ ته دا کار داسې نوی شی نه دی، چې ورته حیران شو. که غرونه، تیږې، ونې... د خبرو جوګه شي او زموږ ویناوې راته بېرته تکرار کړي، څه به مو کول؟ آیا په خپل ځای کې به حیران پاتې نه وو؟

((دا هېڅ امکان نه لري، دا هېڅ کېدوني نه ده)) ایا داسې به مو چیغې نه وهلې؟

آیا د ټیپ تر خبرو وروسته له معجزې څخه د انکار کولو کومه لار لرو؟

که چېرې داسې وي، نو ټیپ، فونوګراف [۱]، ګرامافون [۲]، راډیو، تلویزون او نور ورته سامانونه به د لومړي ځل لپاره کوم پیغمبر جوړ کړي وي، نه بلکې له قرآن کریم څخه تر الهام اخیستلو وروسته عالمان بریالي شول، چې دا شیان جوړ کړي.

هغه شیان، چې د هغو کېدل له تصوره لرې ګڼو، نور نو بیا د الهي احسان خبرې دي او هغو ته معجزه ویل کیږي او د الله (ج) له لوري هغه یوازې خپلو پیغمبرانو ته ورکول کیږي، په دې هم پوهیږو.

داوود(ع) له هغو پیغمبرانو څخه و، چې نوم یې په قرآن کریم کې راغلی دی او د خدای (ج) په امر غرونه، تیږې، بوټي، ونې او نور شیان یې تر امر لاندې کړي وو، د زبور په نازلېدو سره به د داوود(ع) تر ویلو وروسته دغو ټولو شیانو تکرار کاوه. د بېلګې په توګه که داوود(ع) به لااله الاالله ویل، نو هغوی به هم لااله الاالله ویله. یانې د هغه وینا او قرأت به یې تکراراوه.

الله (ج) د دې موضوع په اړه په خپل کتاب قرآن کریم کې د نورو شیانو په څېر په دې موضوع هم ګړېدلی، هغه څښتن تعالی، چې ټوله نړۍ یې پیدا کړې، داوود (ع) ته ډېر فضیلتونه ورکړي، ښه غږ او ورسره یې نور شیان د هغه تر امر لاندې راوستلي، چې دوی ټولو د پاک رب تسبیح کوله او د خدای عبادت به یې کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله (ج) چې هر شی لیدی شي او پر هرڅه پوهیږي او پوهانو ته یې د داوود(ع) معجزه ښېلګه ورکړې، هغو ښېلاښېلو شیانو ته یې نغوته کړې، چې خبرې کولای شي.
انسانانو د تلپاتې حقیقت په لاره کې څېړنې پیل کړې او پورتنۍ یادې شوې آلې یا وسېلې یې جوړې کړې.
آیا تل همداسې نه دي؟ که چېرې عالمانو مغز یوه نمونه نه وای اخیستې، آیا کمپیوټر (برېښنایي مغز) یې جوړولای شو؟
کمپیوټر د انسان پنځونه (تخلیق) ده، خو مغز د الله (ج) تخلیق دی، انسان د خپل مغز ځانګړنو ته په پام کمپیوټر جوړ کړ.
آیا هغه څوک چې له الله (ج) څخه انکار وکړي، له خپل مغز څخه یې انکار نه دی کړی؟
که چېرې داسې وي، نو هېڅ پوه باید په دې ویاړ او غرور و نه کړي، چې ما دا کشف کړی او یا مې رامنځ ته کړی دی، ځکه چې که الله (ج) په قرآن کریم کې ښېلګه نه وای ورکړې، پنځ (طبیعت) یې له ښېلګو او نمونو څخه ډک نه وای ساتلی، بې وزله انسان به د هېڅ شي د موندنو وړتیا نه درلودای او نه به یې دومره موندنې کړې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آیا قرآن کریم  له لیږدیزو (نقلیه) توکو بحث کړی؟

الله (ج) په قرآن کریم  کې له ټولو هغو بار وړونکو بېړیو او انسان  لیږندو بېړیو او همدارنګه د نورو لیږندو وسایلو –چې  په وچه او که په اوبو کې دي یادونه کړې ده.

په دې پوهیږو، چې لومړنی‌بېړۍ‌نوح (ع) جوړه کړې ده، آیا په هغه بېړۍ کې د اور ګاډي، الوتکې، موټر او نورو لیږندو وسایلو په اړه څه یادونه شوې وه؟

لکه الله (ج) په قرآن کریم  کې د انعام سورت په (۵۹) آیت کې فرمایي:

وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لاَ يَعْلَمُهَا إِلاَّ هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلاَّ يَعْلَمُهَا وَلاَ حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الأَرْضِ وَلاَ رَطْبٍ وَلاَ يَابِسٍ إِلاَّ فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ (۵۹)

ژباړه: له هماغه سره د غیبو ټولې چابیانې (کیلیانې) دي، چې له ده پرته بل څوک نه پرې پوهیږي، په وچه او لمده کې، چې هرڅه دي ورباندې پوهیږي، داسې کومه پاڼه نه رالوېږي، چې دی پرې عالم نه وي او نه به د ځمکې په تړږمیو کې څه دانه وي (چې الله ته معلومه نه وي). لامده او وچ ټول په یو روښان کتاب کې (لیکل شوي) دي.

یانې هر څه  په قرآن کریم  کې شته، یوازې سترګو او عقل ته اړتیا لري. علم په کوښښ او زیار سره منځ ته راځي، نه په لټۍ او تنبلی. په لاندیني آیت کې اور ګاډي، الوتکې، موټر او نورو لیږنده وسایلو ته اشاره شوې ده:

الله (ج) په قرآن کریم  کې فرمایي:

وَآيَةٌ لَّهُمْ أَنَّا حَمَلْنَا ذُرِّيَّتَهُمْ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ (۴۱) وَخَلَقْنَا لَهُم مِّن مِّثْلِهِ مَا يَرْكَبُونَ (۴۲)

ژباړه: او یوه (بله) نښانه د دوی لپاره دا چې موږ د هغوی نسل په ډکه شوې بېړۍ کې سپاره کړي و او دوی ته مو د دې په شان نور (هم) داسې شیان پیدا کړي، چې ورباندې سپریږي.

د دین عالمانو دغه آیت د نوح (ع)بېړۍ او ننیو بېړیو په اړه تفسیر کړی دی. د بحث موضوع مو دا وروستی آیت دی:

یانې د نوح (ع) دبېړۍ‌په څېر مو تاسې ته بېړۍ‌جوړې کړې.

د الله (ج) له وینا سره سم، له ورته بېړیو څخه مطلب څه شی دی او څه شی کېدای شي، چې تاسې په هغه کې ناست وئ؟

آیا هغه لیږنده وسایل، چې په ځمکه او هوا کې انسانان له یوه ځایه بل ځای ته لیږدوي نه شي کېدای؟

لیږنده وسایل لکه: الوتکه، اور ګاډی، واړه یا غټ موټر .....

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهانو پر همدغې خبرې اتکاء کړې او وايي چې : الله (ج) د بار وړونکو بېړيو او انسان لېږندو بېړيو او نورو لېږندو وسايلو، چې په هوا، وچه او اوبو کې په حرکت کې دي بحث کوي. دا هم الوتکې دي، هم موټر دي، هم اور ګاډي دي او همدارنګه ورته نور لېږنده وسايل هم په همدغه ډله کې راځي. په حقيقت کې الله (ج) په پورتني آيت شريف کې په ټوليز ډول (ورته بېړۍ) يادونه کړې، چې د ټولو لېږندو وسايلو بحث کوي.

همدارنګه انسانانو د هوايي او ځمکني لېږد توکو د جوړولو لاره پيدا کړه. د الله (ج) ازلي او ابدي يا تلپاتې قدرت هر شي ته بس دی، ځکه چې د هغه له نومونو څخه يو قادر دی او هغه د هر څه د سرته رسولو واک او وړتيا لري.

زموږ ذهن ته يوه پوښتنه سر راښکاره کوي:

انسانانو د بېلابېلو آيتونو نغوتې (اشارې) او بېلابېل الوتونکي ليدلي، چې الوتکه يې جوړه کړې، که چېرې هوا نه وای، نو الوتکه به څنګه الوتله؟

نه، هېڅکله هم نه، الوتنه به يې نه شوه کولای، الله (ج) هوا او الوتونکي پيدا کړي، نو له دې نه ښکاري، چې الوتونکو ته ورته لېږنده وسايل چې په هوا کې به الوت کوي، شته دي.

وايو، چې انسانانو اور ګاډی جوړ کړی، موټر يې جوړ کړی، خو که چېرې لار نه وي، نو آيا دا ټول کار کولای شي؟ او يا د لارې جوړول هم الله (ج) ورښوولي دي؟

طبيعي خبره ده، چې الله (ج) د يوې لارې پلان جوړ کړی، بيايې قرآن کريم راليږلی، موږ ته يې عقل راکړی او له عقل څخه په ګټنه موږ کولای شو، ډېر شيان اختراع او رابرسېره کړو.

که چېرې مږه (مږې) په نظر کې ونيسو، دغه کوچنی حيوان څنګه کولای شی، چې ځمکه څيري او په ځمکه کې لارې جوړې کړي؟ انسانان بايد دغه کوچني حيوان ته نظر واچوي، خپل فکر په کار واچوي او تونل جوړول دې له هغه کوچني حيوان څخه زده کړي.

همدا ډول لوی فکرو انسانانو دغه کوچنی حيوان نمونه ګرځولی او تر ځمکې لاندې يې تونلونه جوړ کړي دي، چې لېږنده وسايل په اسانۍ سره له يوې سيمې څخه بلې ته په لږ وخت کې تللای شي. که فکر وکړو؛ نو پوهېږو، چې موږ بايد د الله (ج) د رااستولي کتاب (قران کريم) منونکي او منندوی اوسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړنی بېړۍ‌چا جوړه کړه؟

یوه ډېر بوړنوړي باران په ورېدو پیل وکړ، د اوبو کچه لوړه شوه، هر ځای اوبو ونیو او د نوح (ع) بېړۍ د اوبو پر سر روانه شوه، کله چې توپان پای ته ورسېد، د نوح (ع) بېړۍ د جودي غره پر سر کېناسته.

الله (ج) لومړی اوبه پیدا کړې او اوبو ته یې د پورته کېدلو وړتیا هم ورکړه، خو د انسانانو د بېړۍ جوړولو طریقه نه وه زده او هغه یې د نوح (ع) په وسیله دوی ته وروښووله.

نوح (ع) د الله (ج) پیغمبر و او هغه یې د وګړو د لارښوونې او د خپل ذات د پېژندلو لپاره را استولی و.

خپلو خلکو ته یې وویل:

اې خلکو! ښه پوه شئ، چې الله (ج) یو دی، ازلي دی، شریک او ساری نه لري، نه زېږېدلی او نه یې څوک زېږولي. پر هغه خدای، چې د هرڅه پیدا کوونکی دی او ناپایه ځواک یا واک لري په هغه ایمان ولرئ، بُتانو ته عبادت مه کوئ، له بُتانو څخه څه هیله او تمه لرئ؟

خو خلکو به د بُتانو عبادت کاوه او د نوح (ع) خبرو ته به یې غوږ نه نیوه، بلکې پر هغه به یې ملنډې هم وهلې. د وخت په تېرېدو سره یې د نوح (ع) په ځورولو لاس پورې کړ، چې لیده به یې، په تیږه به یې ویشته او بد به یې ورته ویل.

د نوح (ع) قوم بډای او پخپله نوح (ع) غریب و او هغه ته به یې هر وخت ویل:

خوار او فقیر یې، پر خپله شا او خوا دې د خپل ځان په څېر یو څو نور غریبان راټول کړي دي، پر خپل کوم شي باندې باوري یې؟ که پر بُتانو باندې ستا دا تورونه او تېري ادامه ولري؛ نو وبه دې وژنو.

له بله پلوه یې هغه کسان په خپلو چلونو کې راښکېرول، چې پر خدای (ج) یې ایمان راوړی و او د هغوی د بې لارۍ کوښښ یې کاوه.

بې له دې چې نوح (ع) د ستړیا احساس وکړي، هغوی ته به یې حقیقت رساوه او هغوی به له کومې کینې او دښمنۍ چې له نوح (ع) سره یې درلوده، د ده خبرو ته غوږ نه نیوه.

حضرت نوح (ع) یوه ورځ ښېرا وکړه، د ښېرا په پایله کې ډېره لویه وچکالي راغله او څلوېښت کاله یې دوام وکړ، ټول سیمه په ډاګ بدله شوه او پر ځمکه به هېڅ ګیاه یا واښه نه راشنه کېدل، خلک له تندې په تنګ شول او نوح (ع) ته ورغلل، چې د وچکالۍ څه چاره وکړي او دوی ته لاره وروښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوح (ع) ورته وفرمایل: ډېره ښه، تاسې پر سمه او نېغه لار ( د الله (ج) په لار) لاړ شئ، بُتان مات کړئ، توبه وباسئ، کنه تر دې به هم ډېر غټ مصیبت دربانديې نازل شي. خلک ډېر خپه شول او چیغې یې کړې:

بې له دې بل هېڅ نه لرې، هر وخت مو د خپل خدای (ج) عبادت ته بولې، ته چې پر خپل کار نه بریالی کیږې، نو وایې: مصیبت به راځي، عذاب به راځي، توپان به راځي، په دغو خبرو مو ډاروې، موږ له تا څخه نه ډارېږو، کوم دی هغه ستا توپان، هغه توپان چې هروخت مو وربانديې ډاروئ، کوم دی هغه توپان؟ چې کله راغی بیا به ورسره ګوره (هغه ساعت هغه مصلحت).

نوح (ع) خپه شو او بله هېڅ لار نه وه پاتې، چې هغوی پر سمه لار راولي، نو خپل پاک رب ته ور وګرځېده او ویې ویل:

اې زما پیدا کوونکیه! اې زما ربه! څنګه چې ته پوهیږې، هغسې وکړه!

الله (ج) نوح (ع) ته دبېړۍ‌جوړولو امر وکړ، ده مبارک له خپلو نورو پلیونو (پیروانو) سره څلور کاله زحمت وګاله، او بېړۍ یې جوړه کړه او د الله (ج) په امر یې له هر ژوي څخه یوه – یوه جوړه (ښځینه او نارینه) راواخیستل او خپل پلیوني (پیروان) یې هم پکې کېنول.

خلکو به ملنډې پرې وهلې او په تیږو به یې ویشتل او ورته ویل به یې: څه شو هغه توپان چې تاسې به موږ ترې ډارولو، چېرته دی هغه توپان؟ ټولو به پر یوه ځای چیغې وهلې، چې کومه دی هغه توپان؟

کله چې باران په اورېدلو شو، د اوبو کچه لوړه شوه، هرځای اوبو ونیو، د نوح (ع) بېړۍ د اوبو پر سر شوه، هغه ټول کسان چې پر دوی به یې ملنډې وهلې، غرق شول، د توپان تر درېدو او اوبو وچېدو وروسته د نوح (ع) بېړۍ د جودي غره پر سر کېناسته او هغه ټول څه، چې په دې بېړۍ کې ول، وژغورل شول.

د دغې بېړۍ چلوونکی په خپله نوح (ع) و.

د نوح (ع) بېړۍ د نړۍ تر ټولو لومړنۍ جوړه شوې بېړۍ وه او د بېړۍ جوړښت د الوتونکو او د کب د سینې پنجرې ته ورته و.

انسانانو د بېړۍ د دغې نمونې له مخې ډېر لویې ، وړې او اوبتلې بېړۍ، چې په هستوي انرژۍ سره لېږدول کیږي، جوړې کړې، که چېرې کب نه وای، آیا انسانانو به دا فکر کاوه، یوه داسې بېړۍ‌جوړه کړي، چې تر اوبو لاندې به ځي.

د اختراع او موندنې لپاره باید د هغه شي یوه نمونه ترلاسه کړي او د هغه په رڼا کې د بل څه پر اختراع کولو بریالی شي. د نوح (ع)بېړۍ د پرونیو، ننیو او راتلونکو هرډول بېړیو نمونه او زېږوونکې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرآن کريم  موږ ته نغوته (اشاره) کوي، چې داسې نور شيان هم په نړۍ کې  کېدای شي او په دې سره موږ څېړنې او موندنو ته هڅوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پرې شوي لاس بیا ورګنډل

عبدالمحیط یې یوه موټر ته واچاوه او روغتون ته یې ورساوه، د هغه پرې شوی لاس یې هم په یوه نیلوني کڅوړه کې له ځانه سره راوړی و او په بیړه سره عملیات شو.
پوره لس نیم ساعته وروسته یې د هغه پرې شوی لاس بېرته پر خپل ځای وروګانډه. هغه ډاکټر، چې د عبدالمحیط لاس یې بېرته ورپیوند کړی و، وویل: د عبدالمحیط لاس به په (۶) شپږو میاشتو کې ښه شي او (۶) میاشتې وروسته به له لاس نه د پخوا په څېر ګټه اخلي.
عبدالمحیط، چې په لومړي ځل په روغتون کې تر بې هوښۍ وروسته سترګې پرانیستلې، لومړی خپل لاس ته وکتل، ده چې خپل پرې شوی لاس پر خپل ځای ولید؛ ډېر خوښ شو او له ډېرې خوښۍ یې اوښکې وبهېدلې او ویې ویل: څومره نېکمرغه یم، چې خپل پرې شوی لاس مې په خپلو سترګو ولید، زه ډېر خوشحاله یم او له هغو ډاکټرانو څخه، چې زه یې له بې لاسی څخه ژغورلی یم؛ ډېره مننه کوم.
کله مې، چې دا خبر د ۱۹۸۱ زېږدي د نوامبر پر( ۵) په ورځپاڼه کې ولوست، نو ماته ورسره د حضرت محمد (ص) یوه معجزه را یاده شوه. هغه معجزه ننني خلکو ته د علمي حقیقتونو لپاره لار پرانیزي.
د بدر په غزا کې معاذ بن عمر نومي یوه ځوان ، د اسلام پر ستر دښمن برید وکړ، د ابوجهل د زوی اکرمه ورته پام شو او د خپل پلار د ژغورلو لپاره یې پر معاذ بن عمر برید وکړ او د هغه مبارك لاس یې پرې کړ، معاذ له خپل پرې شوي لاس سره حضرت محمد(ص) ته ورغی او هغه مبارك د معاذ لاس را واخیست او بېرته یې ورته په خپل ځای کېښود، د مبارکې خولې ناړې (لاړې) یې پرې وموښلې او دعا یې ورته وکړه، د معاذ لاس روغ شو.
د حضرت محمد (ص) له زرګونو نورو معجزو څخه یوه معجزه دا وه، چې بې ګنډلو یې د دې کار عملیات تر سره کړ.
د حضرت محمد (ص) دا معجزه؛ نورو پوهانو او ډاکټرانو ته یوه اشاره وه، د دې معجزې په څېر کار ترسره کول ناشوني دي، خو د دې معجزې پر بنسټ ورته کار سرته رسول شوني دي.
پرې شوې ګوتې او لاسونه په عملیاتو سره بېرته ګنډل کېږي او سرېښېږي. رسول الله (ص) د طب متخصیصینو (ځانګوالو) ته دا دریځه پرانیزي او یو پیغام ورکوي، چې زیار وباسئ او په طب کې دومره پرمختګ وکړئ، چې پرې شوی لاس بېرته وګنډئ او الله(ج)، چې کومې اسانتیاوې او پوهه درکړې، له هغې ګټنه وکړئ او د نړۍ د وګړو د اسانتیا لپاره زیار وباسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مړي ژوندي کيږي

کله کله د تلويزون پر پرده ډاکټران راڅرګندېږي او له نورو خلکو څخه غواړي، چې خپلې سترګې نورو ته وبښئ، (زړه مو وبښئ)، (پښتورګي مو وبښئ). موږ بيا له ځان سره فکر کوو، چې دا شيان څه په کار دي؟ هغوی وايي: د مړي زړه، سترګې او پښتورګي ساتو او بيا يې نورو ناروغانو ته لګوو، دا غړي بېرته په کار کولو پيل کوي.

ډېر ځلې داسې شوي، چې د مړي پښتورګی اېستل شوی او بيا يې د همدې ناروغۍ ناروغ ته ورګنډلی، چې هغه انسان ورسره په کلونو کلونو ژوند کړی دی.

که د ننني نړۍ د طب پرمختګ ته وګورو، نو وينو، چې د مصنوعي زړه جوړېدل هم شوني دي. وغواړو، که ونه غواړو، د دغو ټولو پرمختګونو په ليدو سره مو حضرت عيسی (ع) د ذهن په پرده را څرګندېږي، هغه عيسی (ع)، چې مړي به يې ژوندي کول.

حضرت عيسی (ع) د يهودانو په منځ کې خپله پيغمبري اعلان کړه، د قرآن کريم په آل عمران سورت کې راغلي، چې زه د الله (ج) له لوري تاسې ته رالېږل شوی يم هغه د خپلې پيغمبرۍ د زبات (ثبوت) لپاره بېلابېلې معجزې ښکاره کولې، چې تر ټولو ستره معجزه يې د مړي ژوندي کول و، پردې سربېره يې د ځآيي ړانده بيا بينا کول او د خطرناکو هغو ناروغيو درملنه به يې کوله، چې په هغه وخت کې يې د درملنې شونتيا نه وه. خپل يو ملګری يې تر مړينې درې ورځې وروسته د الله (ج) په امر بيا را ژوندی کړ. د يوې بوډۍ يوه ځوان زوی ته يې چې تر لمبولو او کفانه وروسته يې قبر ته روان کړی و، له خدای (ج) نه دعا وغوښته، چې خدای (ج) د هغه (عيسی ع) په دعا ژوندی کړ. يوه بله نجلۍ يې هم تر مړينې يوه ورځ وروسته بيا ژوندۍ کړه، دا بيا ژوندي شوي کسان بې کړنو ( فعاليته) پاتې نه شول، بلکې د اولادونو خاوندان شول او ډېر کلونه يې ژوند هم وکړ، چې وروسته له څو کلونو يې يو ځل بيا له ژوند سره مخه ښه وکړه.

دا خو ټولو ته څرګنده ده، چې عيسی (ع) به دالله (ج) په فضل او کرم مړي ژوندي کول، کنه له الله (ج) پرته بل هېڅوك نه شي کولای، چې انسان بيا ژوندی کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یهودانو به د خپلې رخې له مخې له حضرت عیسی (ع) سره بحث کاوه او هغه به یې پېغمبر نه؛ بلکې یو جادوګر باله، په دغه معجزه کې، چې مړي یې بیا ژوندي کول، هم عیب لټاوه او ویل به یې دا مړي نه ژوندي کوي، بلکې بې هوښه شوي خلك دي، چې بېرته په هوښ راځي.

یوه ورځ ډېر یهودان راټول شول او عیسی (ع) ته ورغلل، له هغه څخه یې داسې یو څه وغوښتل، چې هغه یې په کولو کې پاتې راشي، هغه مبارك ته یې وویل:

اې عیسی !: سام د نوح زوی، چې سوونه کاله وړاندې مړ شوی؛ بیا را ژوندی کړه، که هغه دې را ژوندی کړ، نو پیغمبري به دې ومنو.

حضرت عیسی (ع) خپل رب ته په زاریو شو او پاك رب (ج) یې دعا ومنله، سام د نوح زوی را ژوندی شو او په خبرو یې پیل وکړ، وېې ویل: عیسی (ع) د خدای (ج) پیغمبر دی، پر هغه ایمان راوړئ، ځینو، چې دا هر څه ولیدل ایمان یې راووړ او ځینو نورو بیا د رخې له کبله ایمان را نه ووړ او عیسی (ع) یې جادوګر وباله او ډول ډول تورونه یې پرې ولګول.

د قرآن کریم تفسیر هم، چې کله دا پېښه بیانوي، زموږ مخې ته یو حقیقت په ډاګه کوي او همدارنګه د تخنیك پوهانو ته لار پرانیزي:

لکه، چې وایي:

هغه معجزې، چې الله (ج) عیسی (ع) ته ورکړې وې، تاسې هغو معجزو ته نژدې کېدای شئ، الله (ج) هغه ته د ځایي ړانده د بیناکولو معجزه ورکړې وه، که مړي نه شئ ژوندي کولای، نو هغه ناروغان، چې د مرګ کومې ته نږدې دي، کولای شی، چې د بل چا په غړو سره هغوی ته ژوند وروبښئ، یانې کولای شئ، چې د یوه مړي زړه راواخلئ او بل ناروغ ته یې ولګوئ، ناروغ به خپل ژوند کړي، د هر درد درمل شته، یوازې زیار وباسئ او له الله (ج) څخه یې وغواړئ.

د حضرت عیسی (ع) په دې معجزه کې، چې مړي یې ژوندي کول، تلویزون ته هم اشاره شوې ده، آیا هغه وګړي، چې ډېر مخکې مړه شوي دي او له هغوی څخه، چې کوم فلمونه پاتې شوي، هغه نن په تلویزون کې نه وینو؟ آیا غږ او خبرې یې نه اورو؟ آیا پر لار تلل، کېناستل، خبرې کول او فکر کول یې نه ننداره کوو؟

د نننې پېر (دور) پوهانو د حضرت عیسی (ع) له معجزې څخه ډېره ګټه اخیستې ده، د بدن دغړیو د پیوندولو پېښې یې رښتینې کړې او تر ډېر کوښښ او هڅو وروسته یې مصنوعي زړه هم جوړ کړ. حضرت عیسی (ع) د هغو ناروغانو درملنه کوله، چې هغه مهال یې درملنه ناشونې وه او په اوسني پېر (دور) کې هم له هغه شان ناروغیو څخه، چې درملنه یې نه کېږي، څه موده مخکې د ډېرو ناروغیو درملنه ناشونې وه، خو اوس د ډېرو د درملنې شونتیا شته، خو اوس هم داسې ناروغۍ شته؛ لکه سرطان او ایډز، چې تر اوسه بې درملنې دي، خو کوښښونو او نویو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځېړنو ښې پایلې ښوولې دي، ، په همدې نژدې وختونو کې به د ایډز او سرطان درمل هم جوړ شي، بېلګه يې په قرآن کریم کې ورکړ شوې ده، دا پروا نه کوي، چې مسلمان دی،که کافر، په هر دین او قانون، چې وي، خو، چې قرآن کریم لارښود وګرځوي او د هغه د لارښوونې په رڼا کې او د قرآن کریم په آیتونو کې چې ځینې اشارې شوي، څېړنه وکړي او زیار وباسي، بریالی کیږي. د قرآن کریم د الحجر سورت په پنځم آیت کې راغلي دي:

مَّا تَسْبِقُ مِنْ أُمَّةٍ أَجَلَهَا وَمَا يَسْتَأْخِرُونَ (۵)

ژباړه: هېڅ قوم نه له خپلې نېټې مخکې (تباه) کېدای شي او نه وروسته (پاتې) کېدای شي.
یانې اجل په ټاکل شوي مهال کې رامنځ ته کیږي، ښه نو آیا د زړه مصنوعي لېږدول او لګول د دې مبارك آیت پر خلاف نه دی؟ نه بلکې خپل بنده ته د مرګ وروستی شېبه د اجل په ډول لیکي، هغه انسان، چې د زړه له امله مړ کیږي او یا د مصنوعي زړه له امله څومره ژوند کوي، الله (ج) تر هماغه وخته پورې د هغه اجل او ژوند لیکلی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ځمکې ګردوالی

قرآن کریم ، ځمکه د چرګې یا اوښ مارغه (شترمرغ) له هګۍ سره ورته ښوولې او پوهانو ته یې په دې اړه رڼا اچولې ده.
نصارا وو هغه وخت د ځمکې د هوارۍ ادعا کوله او د هغوی پاپانو به هم دا ویل، چې په انجیل کې هم شته دي، په هغه وخت کې د دې ادعا کول، ځمکه ګرده ده او څرخي د هغه وخت خلاف و، (ګالیله) په همدې ویلو، چې ځمکه په څرخېدو ده سزا لیدلې وه.
د اسلام عالمانو د ځمکې ګردوالی له دغه آیت شریف څخه راوېستلی ده:

وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذَلِكَ دَحَاهَا (۳۰)

ژباړه: او وروسته تر هغه یې ځمکه وغوړوله.
په حقیقت کې د عربي ژبې (دحی) د منظمې شوې په مانا ده، په عربي کې د (دحی) کلمه د اوښ مارغه (شترمرغ) د هګۍ په مانا کیږي، په قرآن شریف کې هره کلمه ځان ته ډېرې ماناوې لري او همدا ډول د (دحی) کلمه د منظم شوي او د اوښ مارغه د هګۍ مانا هم ورکوي، په دغه صورت کې کولای شو ووایو، چې په قرآن کریم کې ځمکه د اوښ مارغه له هګۍ سره ورته ښوول شوې ده.
قرآن کریم ۱۴۰۰ کاله پخوا د ځمکې ګردوالی بیان کړی و.
أَفَأَمِنَ أَهْلُ الْقُرَى أَن يَأْتِيَهُمْ بَأْسُنَا بَيَاتاً وَهُمْ نَآئِمُونَ (۹۷) أَوَ أَمِنَ أَهْلُ الْقُرَى أَن يَأْتِيَهُمْ بَأْسُنَا ضُحًى وَهُمْ يَلْعَبُونَ (۹۸)
ژباړه: آیا د دې کلیو خلك له دې بې غمه وو، چې د شپې په ویدو به زموږ عذاب ورته راشي؟ یا د دې کلیو خلك له دې بې غمه وو، چې په (رڼا) غرمه به زموږ عذاب ورته راشي په داسې حال کې چې دوی به لوبې کوي.
دا پورتنی آیت شریف د ځمکې پر ګردوالي دلالت کوي.
عالمانو له دغه آیت شریف نه په ګټنه ویلې دي: که چېرې ځمکه هواره وای، نو تل به یا ورځ وای او یا به شپه؛ نو د ځمکې ګردوالی لازم دی؛ ځکه چې یوه اړخ ته ورځ وي او بل ته شپه وي او یو پر بل پسې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ (٨٨)

ژباړه: او ته غرونه وينې، په خپل ځای به يې کلك ولاړ ګڼې، خو هغه به د وريځې غوندې تېريږي، د هغه الله (ج) جوړونه ده، چې هرڅه يې محکم کړي دي، بې شکه هماغه ښه خبردار دی، په هغو کارونو چې تاسې يې کوئ.

په داسې حال کې چې غرونه نه خوځيږي يا حرکت نه کوي، که چېرې داسې وي، نو دځمکې حرکت څرنګه ممکنېدای شي؟
بايد ځمکه حرکت وکړي، چې غرونه هم ورسره په حرکت کې وي، نن ورځ پوهيږو، چې لمرين نظام هره ورځ د يو ميليون ميل په چټکتيا سره د (ويګا) ستوري پر لور په حرکت کې دی، قرآن کريم د لمر حرکت په (يس) سورت کې بيان کړی دی.

وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ذَلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ (٣٨)

او لمر (بله نښه ده) چې په خپله ټاکلې لار چليږي، دا د ډېر پوه برلاسي (خدای) ټاکلی نظام دی.
يانې لمر د الله(ج) په امر تل په حرکت کې وي، هغه هم د ورځې او شپې حرکت او ورسره له کلونو کلونو په حرکت کې وي او يوه دقيقه هم نه تمېږي او له خپل لوري بل لوري ته نه ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آیا قرآن کریم له اتوم څخه بحث کړی؟

قرآن کریم په خپل یوه مبارك آیت کې تر ډېرې د کوچنی مادې (اتوم) په باب بحث کوي، اسلامي عالمانو تر ټولو کوچنی ذره (اتوم) (الجز لا یتجزا) نومولې ده.

په قرآن کریم کې هرې علمي موضوع ته اشاره شوې ده، موږ باید هر آیت شریف ته ځیر شو او د هغه پر مانا او تفسیر په ښه ډول ځان پوه کړو، ځکه، چې ځینې ماناوې پټې ساتل شوي، ځینې ډېرې لنډې توضیح شوي او ځینو ته خو یوازې اشاره شوې ده.

هر څه ته، چې تخنیک لار موندلې او یا لار پیداکوي، قرآن پرې بحث کړی، خو پر هغو باندې پوهېدل لږه ځیرکتیا غواړي، آیا په قرآن کریم کې (اتوم) ته اشاره شوې ده؟

اسلامي پوهانو څېړنه وکړه او دغه مبارك آیت د هغوی پاملرنه ځانته راواړولې ده.

الله (ج) فرمايي:

تُسَبِّحُ لَهُ السَّمَاوَاتُ السَّبْعُ وَالأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلاَّ يُسَبِّحُ بِحَمْدَهِ وَلَـكِن لاَّ تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ إِنَّهُ كَانَ حَلِيماً غَفُوراً (۴۴)

ژباړه: ده ته اسمانونه او واړه ځمکه او هغه څوك چې په دوی کې دي تسبیح وایي او هېڅوك داسې نشته، چې د دغه الله (ج) تسبیح او ثنا ونه وايي، خو تاسې دهغوی په تسبیح نه پوهېږئ؛ بېشکه دغه الله (ج) (د سزا په ځنډولو کې) د ښه زغم خاوند او د (اجر او ثواب په ورکولو کې) لوروونکی دی.

دغه مبارك آیت عالمان په فکر کې واچول، ویل کېږي، چې هر موجود ته په کتو سره په هغه کې یو ډول حرکت او یو ډول ژوند شته دی، که چېرې داسې نه وای، نو الله (ج) ته به یې څنګه عبادت کاوه؟ د الله (ج) تسبیح (عبادت) یو حرکت او د حرکت پایله یو ډول ژوندي اوسېدل دي، د اسلام ستر عالم شیخ فریدالدین عطار نېشاپوري پر دې مبارك آیت اتکا کړې او وايي: ((د کایناتو هره ذره په پرله پسې توګه په حرکت کې ده.))

(c) ketabton.com: The Digital Library

او په يو بل آيت شريف کې الله (ج) فرمايي:

وَمَا تَكُونُ فِي شَأْنٍ وَمَا تَتْلُو مِنْهُ مِن قُرْآنٍ وَلاَ تَعْمَلُونَ مِنْ عَمَلٍ إِلاَّ كُنَّا عَلَيْكُمْ شُهُوداً إِذْ تُفِيضُونَ فِيهِ وَمَا يَعْزُبُ عَن رَّبِّكَ مِن مِّثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الأَرْضِ وَلاَ فِي السَّمَاءِ وَلاَ أَصْغَرَ مِن ذَلِكَ وَلا أَكْبَرَ إِلاَّ فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ (۶۱)

ژباړه: او ته چې په هر حالت کې اوسې او له قرآنه چې هرڅه لولې او (اې خلکو!) تاسې چې هرڅه عمل کوئ، (په هر حال) موږ پر تاسو شاهد يو، کله چې تاسې په کې بوخت (لګيا) ياست او ستا له رب نه په ځمکه او نه په اسمان کې د يو بڅري په اندازه (کوم شی) پټېدای شي او نه به تردې هم لا ډېر کوچنی او يا ډېر لوی داسې کوم شی وي، چې په يو روښانه دفتر (لوح محفوظ) کې نه وي (ليکلی).

دغه مبارک آيت عالمان دې ته وهڅول، چې تر ټولو کوچنۍ او غټه ټوټه پيدا کړي، همدارنګه پيدا يې کړه او هغه يې (الجز لا يتجزا) ونوموله،يانې د دننۍ ورځې په اصطلاح (اتوم) بلل کيږي.

عالمانو په کايناتو کې څېړنې پيل کړې، په ډېر غټ ستوري کې هم حرکت موجود دی. کوم حرکتونه چې په اتوم کې وو هغه په ستورو کې هم ول.

د اتوم جوړښت يو خارق العاده کار او په يوه نظام کې دننه دی، په منځنۍ برخه کې يې د راښکون ځواک ( قوه) او د هغه په اړخونو يا شا او خوا کې يې د ورېځو په څېر الکترونونه روان دي.

په لنډه توګه ويلای شو، چې په هر شي کې يو ډول حرکت موجود دی، هر شی په خپله ژبه د الله (ج) ذکر کوي.

د هايدروجن اتوم يې تر څېړنې لاندې ونيو او پيدا يې کړل، چې الکترونونه په خپل چاپېريال کې د زرو کيلو مترو په چټکتيا سره چورلي.

ځمکه په يوه ساعت کې ۱۰۸ زره کيلو متره چټکتيا لري او د لمر نظام هم د (اويګا ستوري) په لوري په حرکت کې وي.

له اتوم څخه نېولې بيا تر غټو غټو ستورو پورې په حرکت کې دي او دغه ټول د الله (ج) تر اداري لاندې دي، د هغه ذکر او عبادت کوي او د هغه له امره سرغړونه نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بیا څنګه ژوندي کیږو؟

پاك څښتن تعالی په خپل کتاب قرآن کریم کې په تر مرګ وروسته ژوند خبرې کړي او موږ یې په اړه خبر کړي یو. (بعث بعد الموت).
دې خبرې ته باید په تعجب کې پاتې نه شو، ځکه چې میلیونونه نباتات د مني په رارسېدو سره له منځه ځي، وچیږي، خو بیا د پسرلي په رارسېدو سره بېرته راژوندي کیږي. ځینې حیوانات په ژمنیو خوبونو سره بې له خوراك او څښاك ټول ژمی خوب کوي. له یوه انده دوی بېرته ژوندي کیږي او همدا لړۍ ادامه لري.
هغه خدای (ج)، چې په میلیونو نباتات په مني کې مړه کوي او په ژمي کې یې بېرته راژوندي کوي او همدا ډول ځینې حیوانات په ژمني خوب ویده کوي بیایې بېرته راویښوي، هغه څښتن تعالی ته دا هم ستونزمنه نه ده، چې انسان بیا ژوندی کړي.
لکه څنګه چې یې اوه ملګري (اصحاب کهف) تر درې سوه لمریز کاله پورې په یوه غار کې ویده کړي وو او بیایې ژوندي کړل. د دې داستان ټوله کیسه په کهف سورت کې راغلې ده.
د پخواني (افسوس) او اوسني (تارسوس) ښار یو ډېر ظالم او بت پاله پاچا و، چې نوم یې (دقیانوس) و، د عیسی (ع) دین یې منع کړی و او بت نمانځنه یې دود کړې وه؛ چا چې به د ده له امره غاړه غړوله، بېلابېلې ځورونې به یې لیدلې.
د پخواني (افسوس) او اوسني (تارسوس) اوه ځوانانو د پاچا پر ضد مقاومت پیل کړ، ظالم واکمن هغوی ونیول او ورته یې وویل که په دومره ورځو کې موله مخالفته لاس وانه خیست؛ نو وبه وژل شئ.
په ځینو روایاتو کې راغلي دي، چې هغوی د پاچا له بنده وتښتېدل، له هغو سره یو سپی هم و، چې (کتمیر) نومېده ، دوی په یوه غار کې پټ شول.
د دقیانوس یو مینه وال له دوی خبر شو او خپل پاچا یې خبر کړ، دقیانوس ، چې غار ته راغی؛ نو ویې لیدل، چې اوه ملګري ویده دي، هېڅ یې ورته ونه ویل، یوازې یې دا وویل، چې د غار خوله په تیږو وتړئ او یوه بله خبره یې هم ورسره مله کړه، چې دا غار باید د دوی قبر اوسي.
کلونه کلونه تېر شول، هغه اوه ملګري راویښ شول او هر لوري ته به یې کتل، د غار خوله ایله شوې وه، تیرې لوېدلې وې او له یو او بل نه به یې پوښتل، چې څومره وخت به ویده شوي یو؟ یوه به ځواب ورکړ نیمه ورځ، بل به ډېر وخت ښوده او بل به ویل، چې خدای پوهیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تږي وو او ملګرو (ایملیحا) ته پیسې ورکړې، چې ښار ته لاړ شي او د خوراك لپاره څه شی راوړي، هغه ښار ته لاړ، هر شی به یې چې لیده، نو حیران به شو، هر شی بدل شوی و، کوڅې، کورونه، میدانونه او نور.. حتا د انسانانو کالي هم بدل ول.

له ځان سره یې وویل؛ لکه چې بل ښار ته راغلی یم، له یوه مخامخ را روان سړي، څخه یې پوښتنه وکړه. هغه ورته وویل نه همدا د افسوس ښار دی او تاسې کوم بل ښار ته نه یاست راغلي. یوې هټۍ (دوکان) ته ننووت، هټۍ وال هم حیران شو، چې دا د کوم وخت سکه درسره ده، چې اوسمهال له دوده لوېدلې او دا د درې سوو کلونو وړاندې خبره ده. هټۍ وال وپوښتل: دا څه شی ده؟ دا پیسې دې له کومه کړي؟ پرې چیغه یې کړه، چې کومه خزانه دې پیدا کړې؟

دولتي عسکرو ته یې خبر ورکړ، عسکرو ایملیحا له ځانه سره د وخت حاکم ته وروست. ایملیحا یو ځل بیا حیران شو، دقیانوس نه و، دا پاچا یې نه پېژانده او بل څوك و، له ځانه سره یې هم دا ویل، چې دا به څوك وي؟ پاچا وپوښتل؟

د دقیانوس د وخت پیسې دې له کومه کړې دي؟

هېڅ بله لاره یې نه درلوده او په خبرو یې خوله پرانیسته، ایملیحا له دقیانوس څخه د تښتېدو، په غار کې د اوږده خوب او پټېدلو ټوله کیسه وکړه، پاچا په یوه شېبه کې پر ټولو شیانو پوه شو.

او وې ویل: ډېر د شکر ځای دی، چې له الله(ج) څخه یې د هغه پاك پر ذات ټینګ باور او عقیده درلودل غوښتي و، هغه ذات، چې انسانان له هماغه جسم او روح سره بیا راژوندي کوي، الله (ج) راته ایملیحا راواستاوه، اې خلکو! ټول په ګډه سره هغه غار ته ورځو، چې د ایملیحا ملګري پکې دي، ټول پر خپلو آسونو سواره شول او د غار مخې ته ورغلل، پاچا غار ته ننوت او د ټول حالت په اړه یې ورته وویل، د هغوی دعاګانې یې واخیستلې، د هغوی غوښتنه یې ښار ته یووړه او یو ځل بیا هغوی په ارامه خوب ویده شول، چې بیا هېڅ چېرې هم راویښ نه شول، مړه شوي وو.

دا هغه غار دی، چې د تارسوس ښار په شا او خوا کې موقیعت لري او د اصحاب کهف یا د اوو ملګرو غار په نامه یادېږي، د دې اوو ملګرو قبرونه هم څنګ پر څنګ په همدې غار کې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انسانانو الوتل له چا زده کړل؟

پخوانیو انسانانو به الوتونکو ته په ډېره اریانتیا (حیرانتیا) سره کتل او د هغو په اړه به یې په ډېره ځیرتیا فکر کاوه او ویل به یې، کاشکې موږ هم د هغوی په څېر الوتای شوای.

ایټالوی رسام او عالم لیونارډو ډو ونسي (Leonardo da vinci) به د الوتونکو الوت ته په ډېره اریانتیا سره کتل او ډېری ورځې به د یوې غونډۍ پرسر کېناسته او د الوتونکو بېلابېل الوتونه به یې کتل، خپلې لاسته راغلې پایلې به یې د خپل یادښت په کتابچه کې ثبتولې.

الوت یې زړه غوښته، له هر ډول تمرینونو څخه یې کار واخیست، چې والوځي، خو بریالی نه شو، خو لومړنی ترکي مسلمان (حضرفن احمد چلبی) د مراد په څلورم پېر (دوره) کې په الوتلو بریالی شو، هغه په لومړي ځل د ګوربت وزرې په خپلو اوږو کېښودې او له (ګالاتا برج) نه یې ځان هوا ته خوشې کړ، چې په (اسکودار) کې بې له کوم زیانه راښکته شو.

انسانانو ته همدا الهام له کومه راغلی دی؟

ښایي لومړی له الوتونکو څخه او بیا د سلېمان (ع) له الوتلو څخه دا الهام د انسانانو ذهنیت ته راغلی وي.

قرآن کریم دا پېښه داسې بیانوي:

وَلِسلېمان الرِّيحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ وَأَسَلْنَا لَهُ عَيْنَ الْقِطْرِ وَمِنَ الْجِنِّ مَن يَعْمَلُ بَيْنَ يَدَيْهِ بِإِذْنِ رَبِّهِ وَمَن يَزِغْ مِنْهُمْ عَنْ أَمْرِنَا نُذِقْهُ مِنْ عَذَابِ السَّعِيرِ (۱۲)

ژباړه: او سلیمان ته مو باد تابع کړی و، چې د سهار مزل یې هم د یوې میاشتې و او د ماښام یې هم د یوې میاشتې او هغه ته مو د تانبې چینه (هم) بهولې وه او پېریانو کې ځینې داسې وو، چې د خپل رب په حکم یې د هغه په وړاندې کار کولو او له هغوی نه چې څوک زموږ له امره سر غړوي، موږ به د بل اور عذاب وروڅکو.

سلېمان (ع) به چې سبا ناری وکړ؛ نو د هوا (باد او شمال) پر وزرو چې د ده تر امر لاندې و، سپرېده او د غرمې ډوډۍ به یې د (استخر) په ښار کې خوړله، چې هغه ځای ته تګ یوه میاشت وخت غواړي. او بیا به پر باد سپرېده او د شپې ډوډۍ به یې د (کابل) په ښار کې (چې یوه میاشت مزل و) خوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې مه وايئ، چې آيا باد انسان لېږدوی شي؟ په ځينو تلويزونونو کې ګورو چې وايي پلاني توپان د اروپا پلانۍ برخه ويجاړه کړه، باد نه يوازې انسانان الوځوي، بلکې ډېر نور شيان هم له خپلې مخې لرې کوي او الوځوي يې، هغه باد، چې د الله (ج) له لوري ورته امر شوی، نو هغه ته د يوه انسان لېږدول څه شی دي؟

سلېمان (ع) به پر باد سپرېده او الوته به، هغه په حقيقت کې انسانانو ته د الوتلو لاره ورښووله، له دغې موضوع څخه په الهام سره نورو انسانانو هم وکړای شول، چې د بېلابېلو الوتکو په جوړولو لاس پورې کړي.

دا په خپله يوه معجزه وه او لکه څنګه چې تاسې پوهېږئ، معجزه يو فوق العاده حالت دی او يوازې د الله (ج) له لوري خپلو پيغمبرانو ته ورکول کېږي. له يوه پلوه الوتونکو او له بله پلوه په قرآن کريم کې د سلېمان (ع) د معجزې ذکر، چې پر باد به سپرېده او سياحت به يې کاوه، نورو انسانانو ته د الوتلو لار پرانيستلې ده.

لکه څنګه چې غواړي دا په ډاګه کړي:

اې! انسانانو تنبلي پرېږدئ او زيار وباسئ، هغومره زحمت وباسئ، چې يوه ورځ الوتنه وکړئ. الوتونکي تاسې ته بېلګې دي او د حضرت سلېمان (ع) معجزه درته لاسوند (دليل) دی، سلېمان ته مو الوت ورکړ؛ نو تاسې هم هغه ته په پام سره له پنځ (طبيعت) نه ګټنه وکړئ.

لږ فکر وکړئ، که دا معجزه په قرآن کريم کې نه بيانېدای او په پنځ کې هم الوتونکی شی نه وای، آيا انسانانو به د الوتلو فکر هم کړی وای؟

د الوتونکو تر ليدلو او لوستلو وروسته عالمانو سامان الات جوړ کړل او زيار يې وايست، چې الوتونکو ته ورته شی جوړ کړي او د هغه په منځ کې يې موتور کېښود، نو څنګه چې دوی خپله هم پيدا کړل شوي وو او ساه يې نه شوه ورکوی؛ نو موټور يې جوړ کړ، ماشين يې جوړ کړ، په الوتکه کې يې ولګول، وزرې يې ورته جوړې کړې او ډېرې ازموينې يې تر سره کړې، چې پايله يې مثبته او ګټوره راووتله.

د وخت په تېرېدو سره انسانانو ډېر کوښښ وکړ او دغې برخې ته يې پراختيا ورکړه.

د هرشي پيل او پای په قرآن کريم کې راغلی دی، د هر علم پيل او پای هم په قرآن کريم کې دی، که د قرآن کريم په رڼا کې ژوند وکړو، څه شی، چې په هغه کې دي، هغه د ژوند موخه وګرځوو او عمل پرې وکړو، نو د لويو لويو موندنو او نوښتونو خاوندان به شو، بايد دا هېر نه کړو، چې لومړنی انسان چې په هوا کې يې الوت کړی؛ هغه مسلمان دی، حضرفن احمد چلبي، بې له شکه چې ده به د حضرت سلېمان (ع) معجزه په قرآن کريم کې لوستې وي او بيا يې پر خپل الوت فکر کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولې مسلې په قرآن کريم  کې شته دي، خو يوازې زموږ دقت او ځيرنه غواړي، چې بايد تلاوت يې کړو او عمل پرې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اټوم بم ته د قرآن کریم اشاره

سدومیان یو بې اخلاقه او بې تربیې ملت و، تر هغه وخته، چې کومې نادودې او غلط کارونه چا نه وو کړي؛ هغه سدومیانو ترسره کړل، غلا، لوټل، وژنه او هر ډول ناوړه کار به دوی کاوه او د دوی ورځني کارونه همدا ول. په هغه وخت کې داسې بېلارې خلک وو، چې له خپلو لوڼو او خویندو سره به یې ودونه کول، دا ډول کارونه به یې په ډېر ویاړ سره کول او نورو ته به یې په ویلو خوښېدل.

الله (ج) هغوی ته لوط (ع) د پېغمبر په توګه ورواستاوه، لوط (ع) خلک راټول کړل او هغوی یې له خپلو بدو کړنو څخه وډارول، چې د دغو چارو پای ښه نه ده او د عذابونو یې هم ورته وویل.

خو دهغوی پر ذهنونو یې هېڅ ډول اغېزه ونه کړه او لا نور به هم په غوسه کېدل. یوه ورځ ټول سره راغونډ شول، د لوط (ع) او د هغه د نورو پیروانو په اړه یې پرېکړه وکړه، چې دوی باید له خپلې خاورې وباسو، ځکه چې دهغوی شتون به سدومیان ناارامه کړي او لوط (ع) ته یې دا هم وویل: که ته په خپلو خبرو کې رښتینی یې؛ نو خپل خدای تهووایه، چې پر موږ باندې خپل عذاب راولي، بیا به هغه وخت ګورو.

هغوی اصلاح نه شول او لوط (ع) هم مجبور شو، چې خپل لاسونه پورته کړي او دعا یې وکړه:
اې ربه! ما او هغه کسان، چې زما پیروان دي، د دغو کسانو له شر ه وژغوره.

الله (ج) د لوط (ع) دعا قبوله کړله او د سدومیانو د نشتولو لپاره یې درې ملایکې راواستولې، ملایکې د دریو ځوانانو په څېر د لوط (ع) قوم ته راغلې او سدومیانو له هغو درو ځوانانو (درو ملایکو) سره دناوړه چلند په سوچ کې شول، چې په دغه شوم حرکت سره یې ځانته لا د عذاب سختي ډېره کړه. د قرآن کریم د ارشاداتو په رڼا کې درې ملایکې لومړی لوط (ع) ته ورغلې او هغه ته یې دژغورنې لار وروښووله.

قَالُواْ يَا لُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَن يَصِلُواْ إِلَيْكَ فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ اللَّيْلِ وَلاَ يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ إِلاَّ امْرَأَتَكَ إِنَّهُ مُصِيبُهَا مَا أَصَابَهُمْ إِنَّ مَوْعِدَهُمُ الصُّبْحُ أَلَيْسَ الصُّبْحُ بِقَرِيبٍ (۸۱)

ژباړه: ویلې اې لوطه! موږ ستا د رب استازي یو، دوی هېڅ ضرر نه شي در رسولی؛ نو د شپې په یوه برخه کې خپله کورنۍ روانه کړه او هېڅوک دې له تاسې بېرته نه راګوري، پرته له مېرمنې دې، یقیناً هغې ته هغه (عذاب) رسېدونکی دی، چې هغوی ته ور رسیږي، بې شکه د هغوی نېټه سهار ده، آیا سهار نژدې نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او همدارنګه د الحجر سورت په (۶۵) آیت کې فرمایلي:

فَأَسْرِ بِأَهْلِكَ بِقِطْعٍ مِّنَ اللَّيْلِ وَاتَّبِعْ أَدْبَارَهُمْ وَلاَ يَلْتَفِتْ مِنكُمْ أَحَدٌ وَامْضُواْ حَيْثُ تُؤمَرُونَ (۶۵)

ژباړه: نو د شپې په یوه برخه کې خپله کورنۍ وباسه، ته یې شاته ورپسې ځه، ستاسې یو دې هم بېرته نه راګوري او چېرته چې درته حکم کیږي هغه لور ته درومئ.
دا پېښه د ګناهګارانو او ظالمانو د ورکاوي او د مومنانو د خلاصون لامل شوه.
دا آیت شریف د دې څرګندوی دی، چې مسلمانان څنګه وژغورل شول او په دې آیت شریف کې پردې سربېره، نننې پېر ته هم نغوته شوې ده، چې وایي: ((له تاسې څخه دې هېڅوک بېرته ( خپل شا ته) نه ګوري)). د عذاب له ژغورلو څخه لومړی غواړي، له هغه ځایه بهر لاړ شي؛ لکه څنګه چې څرګنده ده، چې د اټوم بم له تاثیراتو څخه یو هم وړانګشیندنه (تشعشع) ده.
د وړانګشیندنې (تشعشع) پر وړاندې د یو شي خنډ ګرځېدل، ډېر خطرناک دي. غواړم دلته، د هغه موضوع په اړه مو، چې توضیح کوله، یو څه ووایم: هغه عذاب کېدای شي، د اټم بمب له زیان سره ورته وي، غواړم ووایم، چې اټم بمب ته قرآن کریم هم نغوته کړې ده. په قرآن کریم کې هرڅه او هر علم ته اشاره شوې؛ نو څنګه کېدای شي، چې اټم بمب ته اشاره نه وې شوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اوسپنې ویلي کول مو له چا زده کړل؟

داوود (ع) د اوسپنې د ویلي کولو معجزه لرله او الله (ج) د داوود (ع) دا معجزه نورو وګړو ته ښېلګه ګرځولې ده.

که پخوا وختونو ته ځیر شو اوسپنه، مس، پطرول او نور توکي د ځمکې لاندې موجود وو؛ خو انسانانو یې د کارونې وړتیا نه لرله.

الله (ج) خپل پیغمبران د نورو بندګانو د لارښوونې لپاره را استولي دي، چې د خپلو معجزو په رڼا کې نورو ته لارښوونه وکړي او وګړي هم همدا معجزې ځانته ښېلګې وګرځوي او په اړه یې فکر وکړي، لکه، چې نوح (ع) بېړۍ جوړول، ادریس (ع) کالي جوړول، آدم (ع) د ټولو شیانو نومونه اېښودل، سلېمان (ع) ته یې له مس څخه د ګټې اخیستلو ډولونه ور وښوول. په قرآن کریم کې راغلي دي، چې سلېمان (ع) ته د ذوب شویو مسو سیند ورکړل شوای دی، اوس په زرګونو کلونو وروسته فکر کوو، اوسپنه وه، مس و؛ خو ویلي کول او ښه ورکول یې نه وو زده، له دې امله یې د سفالي لوښو څخه ګټه اخیستله.

هغه وخت داوود (ع) راځي په خپلو مبارکو لاسونو کې یې اوسپنه د اوړو په څېر کړه او یوه بله ښه یې ورکړه، په اصل کې د داود (ع) په وسیله د اوسپنې ویلي کول یوه معجزه وه؛ خو نورو خلکو ته یوه نمونه هم وه، داوود (ع) یو عادل واکمن و او خپل عملونه به یې داسې تر څارنې لاندې نیول، چې کله کله به یې خپله څېره هم بدلوله او د خلکو په منځ کې به یې ګټ راټګ کاوه، د هغوی خبرې به یې اورېدلې، څوک به چې د ده له ادارې څخه ناخوښ ول، له هغوی څخه به یې ځان خبراوه او هغوی ته به یې قناعت ورکاوه.

یوه ورځ له یو تن سره مخ شو، چې په اصل کې دا یوه ملایکه وه او د الله (ج) په امر د انسانانو په لباس کې راغلې وه؛ خو الله (ج) داوود(ع) ته د دې په اړه هېڅ نه و ویلي، داود (ع) په ملایکې باندې د یو ښاري ګومان وکړ او له هغه څخه یې وپوښتل:

داوود څنګه انسان دی؟

ملایکې ځواب ورکړ: ښه انسان دی؛ خو یو خراب عادت هم لري.

داوود (ع) په اندېښنه کې شو او ویې پوښتل:

هغه کوم عادت دی؟

ملایکې ځواب ورکړ:

د خپلو اولادونو او کورنۍ لګښت د دولت له خزانې څخه اخلي، د دې پر ځای یې که چېرې ځان ته او یا هغوی ته یو کسب ور زده کړی وای، دا به یې ډېر لوی کار کړی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داوود (ع) چې څنګه کور ته راورسېد، خپل لاسونه یې دعا ته لپه کړل او له الله (ج) څخه یې د حلالې روزۍ ګټلو غوښتنه وکړه او ویې ویل:
ای لویه خدایه! له ماسره مرسته وکړه.
الله (ج) خپل رسول ته پښګري (اهنګري) وروښووله او هغه ته یې یوه معجزه ورکړه، چې بې له کومې وسیلې په خپلو لاسونو اوسپنه نرمه کړي.
بالاخره داوود (ع) به اوسپنه نرموله او هغې ته به یې بله بڼه ورکوله او خرڅوله به یې او له همدې لارې به یې د خپلې کورنۍ اړتیاوې پوره کولې.
له مسو څخه د ګټې اخیستلو ډول سلېمان (ع) ته ورښوول شوی و او دا ټول شیان په قرآن کریم کې راغلي دي، له دې څخه اصلي موخه یوازې د نورو انسانانو لارښوونه کول وو او دوی ته یې دا ښوول، چې که دوی وکولای شي په دې برخه کې ، نور نوي وسایل جوړ کړي او په تخنیک کې ورڅخه ګټه واخلي.
اوس باید موږ د اوسپنې او مسو د ذوب او ویلي کولو په قدر او ارزښت پوه شو، که چېرې دا نه وی شوای؛ نو نني انسانان به اوسني پرمختللي تمدن ته نه وو رسېدلي. نننۍ صنایع به نه وای؛ ځکه چې په ډېرو سامانونو کې اوسپنه او مس کارېدلي دي او کارېږي.
دغو عالمانو هم د داود (ع) د دغې معجزې په رڼا کې موندنې کړي، له مسو او اوسپنې څخه یې بېلابېل شیان جوړ کړي دي، هغه وسایل، چې اصل یې فلز دی، په حرکت یې راوستل، وایې لوځول او په لویو_ لویو دریابونو کې یې هم په حرکت راوستل.

نننی تخنیک د الله (ج) د هغو بېلګو په پایله کې منځ ته راغلی دی، چې موږ ته یې د خپلو پیغمبرانو له لارې ښوولي دي او خام توکي یې په پنځ (طبیعت) کې پیدا کړي دي؛ یانې زېرمې یې په پنځ کې ځای پرځای کړي دي، که موږ لږ فکر وکړو، کېدای شي له نني پرمختګ څخه نور هم پرمخ لاړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قرآن کريم سپوږمۍ ته پرتګ ګرېدلی

پر ۱۹۶۹ زېږدي کال کې امريکايان د انسانانو په لاس جوړو شويو توکو په وسيله فضا ته لاړل، ښې پايلې يې لاس ته راوړې؛ خو ډېرو انسانانو باور نه کاوه، چې څنګه انسان کولای شي، سپوږمۍ ته لاړ شي؟ آيا دا کېدای شي؟

دې خبرو به ډېر وخت ضايع کاوه، هر چا به ويل، چې سپوږمۍ نور دی او انسان سوځوي او په خپلو خبرو به يې ټينګار هم کاوه.

په هغه وخت کې مې له يو تن سره پېژندګلوي وشوه، خبرې مو ورو – ورو تر سپوږميه، چې امريکايان ورته ختلي ول ورسېدلې، هغه وويل، چې زه پردې خبره هېڅ باور نه کوم، ما ورته وويل، چې زه يې په ټوله مانا منم او باور هم ورباندې کوم، د الله (ج) کتاب ۱۴۰۰ کاله وړاندې دې خبرې ته اشاره کړې ده، د دين يو لوی عالم په خپل تفسير کې دا خبره داسې څرګندوي.

نوموړی په دې خبرې نور هم حيران شو، هغه له يوې عالي لېسې نه فارغ شوای و؛ خو دا يې ويل، دا مې لومړی ځل دی، چې داسې خبرې اورم او خپلو خبرو ته يې دوام ورکړ:

NASA[6] ته مې ټېلېګرام واستوه او هغوی ته مې مبارکي ورکړه، په ټېلېګرام کې مې د هغوی برياليتوبونه وليکل.

! آيا دومره ډاډه ياست؟

! هو ډاډه يم، قرآن کريم هرڅه روښانه کړي دي.

! په کوم تفسير شريف کې ورسره مخ شوی يې.

! له خپل کتابتون څخه مې يو کتاب راواخيست، يوه پاڼه مې پرانيستله او پر لوستلو مې پيل وکړ. ليکلي وو:

((تر لمر او سپوږمۍ پورې دې پرمختګ وکړ (سپوږمۍ ته لاړې). لمر کې دې پښه کېښوده. وګوره سپوږمۍ په خپله تياره ده (خپله رڼا له لمر نه اخلي) نه رڼا لري او نه ژوند)

(Sozler /۳۵۴)[7]

---

6- NASA (National Aeronautics and space Administration) د فضا او فضانوردۍ ملي اداره، چې په ۱۹۵۸ زېږدي کال کې د امريکا په متحده ايا لاتو کې يې بنسټ کېښوول شو او اوس هم د امريکا په واشنګټن ډي سي کې پرته ده، د ولسمشر تر ځانګړې څارنې لاندې کارونه ترسره کوي او همدارنګه د بودجې خوندي ساتل يې هم د ولسمشر له خوا ټاکل کيږي.

7- د (Sozler) کتاب ليکوال استاد بديع الزمان نورسي دی، چې پر ۱۸۷۳ زېږدي کال په ترکيه کې زېږېدلی او پر کال ۱۹۶۰ زېږدي کې مړ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا مې هغه ته مخ وروګرځاوه او ورته مې وویل:

ستاسې پاملرنه وروستۍ جملې ته را اړوم، ویل شوي، چې (سپوږمۍ ژوند او نور نه لري). دا تفسیر څلوېښت کاله دمخه لیکل شوی دی، دې ته څه وایې؟

څه به یې ویلي وای؟ حیران شوای و او داسې یې ویل، چې په خپل لاس کې څومره یوه درنه او له ارزښته ډکه خزانه لرو؛ خو له بده مرغه چې ور څخه ناخبره پاتې یو، څوک پوهېږي، چې په قرآن کریم کې څومره نور پټ رازونه شته دي؟ خو کومې دي هغه سترګې چې وې وینې او هغه عقل، چې درک یې کړي، د دې شیانو لرل اړین او لازمي دي؛ ترڅو د قرآن کریم له پټو رازونو څخه ځان خبر کړو. ډېر د شکر ځای دی، چې دې شیانو ته پخوانیو پوهانو او عالمانو نغوته کړې او ورباندې پوه شوي دي، کنه نو تر اوسه به موږ نالوستي او بې خبره پاتې وو او د هغوی برکت دی، چې اوس ورنه څه شی زده کوو.

څو ورځې وروسته له دې چې (امریکایان سپوږمۍ ته تللي ول) داسې مو واورېدل؛ لکه څنګه چې په تفسیر شریف کې لیکل شوي و، کټ مټ هماغسې؛ یانې هلته نه ژوند (حیات) و، نه نور او نه هم سوځېده.

لومړنی فضانورد، چې په سپوږمۍ کې یې پل ایښی دی (نیل ارمسټرانګ) و، خپل لاسونه یې پورته کړل او د الله (ج) ډېر شکر یې وکړ، هغه پوهېده، چې انسانان په پنځ (طبیعت) کې د الهي جوړو شویو قوانینو په واسطه دلته رسېدلی شي.

نو اوس موږ مسلمانان باید زیار وباسو، درس ووایو، قرآن کریم په بشپړه توګه درک کړو او په راتلونکې کې له نورو ډېرو علمي پرمختګونو او نوښتونو سره غاړه غړۍ شو او له دې پوښتنې سره مخ نه شو، چې ولې مسلمانان په لومړي ځل سپوږمۍ ته ونه ختل؟ په داسې حال کې چې دا موضوع لا دمخه په قرآن کریم کې بیان شوې ده.

د کتاب په پیل کې مو هم وویل، چې الله (ج) د ټولو انسانانو خالق او خدای دی، (رب العلمین) دی، خپلو بنده ګانو ته یې امر کړی، چې زیار وباسئ، درس ولولئ، څېړنې وکړئ او خدای (ج) خپلو زیارکښو بندګانو ته هرومرو ثواب او پایله ورکوي.

حضرت محمد (ص) هم په خپلو ډېرو حدیثونو کې خپل اُمتیان درس ویلو، زیار ایستلو او څېړنې کولو ته هڅولي دي، که مسلمانان هم یو؛ خو بې له زیار او کوښښ څخه نشو کولای ، چې بریالي او ګټونکي شو؛ ځکه چې تنبلي او لټي خپله د الله (ج) له امر څخه سرغړونه ده.

بې ځایه به نه وي، چې ووایو، الله (ج) تل هغه چا ته بریالیتوب ور په برخه کوي، چې زیار باسي او بې له زیاره بریالیتوب ته څوک نه شي رسېدلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په قرآن کریم کې د هر علم په اړه پوره بحث شوی؛ خو باید له ځانه وپوښتو، چې آیا موږ دا علمونه زده کړي دي او یا مو د دغو علمونو په اړه څېړنې کړي دي؟ ستونزه همدلته ده، که موږ دا علمونه زده کړو؛ نو ټولې ستونزې به حل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ابابیل له آلوتونکود نیوترون تر بمه

ابرهه خپلو سرتېرو ته پر کعبه شریفه د برید کولو امر کړی و؛ خو هغه فیل (محمود) چې ابرهه ورباندې سپور و، په ځمکه کې ننوت او قدم یې نه شو وهلای.

ابرهه د یمن والي عیسوي مذهبه و، کعبې شریفې ته یې د ډلو ډلو انسانانو تګ ولید، د مخنیوي لپاره یې یوه کلیسا، چې دروازې یې له سرو زرو، سپینو زرو او یاقوتو څخه جوړې شوې وې- جوړه کړه.

ده به فکر کاوه، چې دا کلیسا له کعبې شریفې نه غوره او ښه ده او ټول خلك به دلته راشي؛ خو څنګه یې چې هیله لرله هسې ونه شول، هېڅوك رانغلل، له دې امله یې د کعبې شریفې د سوځولو امر ورکړ، په دې وخت کې یې د حبشي سلطنت تر ټولو ځواکمن او قوي فیل (محمود) راوغوښت.

تیاري یې ونیوله، د کعبې شریفې په لوري وخوځېدل او د یوې ورځې په لړ کې د کعبې شریفې شا او خوا ځای پر ځای شول.

په دغو ورځو کې د حضرت محمد (ص) د نیکه (عبدالمطلب)، چې د قریشو د قبیلې مشر هم و، دوه سوه اوښان چور شول.

د حضرت محمد (ص) تره عبدالمطلب د خپلو اوښانو د بېرته غوښتلو لپاره ابرهه ته ورغی او خپله غوښتنه یې ورته بیان کړه، ابرهه ډېر حیران شوی و او عبدالمطلب ته یې وویل: زه ستاسې د پلرونو او نیکونو د ځای (کعبې) ورانولو ته راغلی یم او ته دې خپلې غوښتنې ته وګوره، د کعبې په اړه هېڅ فکر نه کوې او خپل اوښان غواړې.

عبدالمطلب ورته داسې ځواب ورکړ:

زه یوازې د خپلو اوښانو څښتن یم او کعبه هم څښتن لري او هغه به یې خپله ساتنه وکړي.

ابرهه د دې خبرې له اورېدو وروسته په ملنډو وویل : اوس هېڅوك نشته، چې کعبه له مانه وساتي.

بله ورځ یې خپلو سرتېرو ته پر کعبې شریفې د برید کولو امر ورکړ؛ خو هغه فیل (محمود) چې ابرهه ورباندې سپور و، په ځمکه کې ننوت او قدم یې نه شو وهلای، هرڅه یې چې وکړل هغه یې له ځمکې ونه شو ایستلای، کله به چې د فیل مخه د شام خواته کېدله، په ډېرې چټکۍ سره به یې تګ کاوه؛ خو چې کله به یې د فیل مخه د کعبې شریفې خواته کړله، له خپله ځایه به نه شو ښورېدلای او هېڅ حرکت به یې نه شو کولای. د سیند له خوا نه د الوتونکو یو لښکر تر سترګو شو، چې د هغو په ګوتو؛ یانې پنجو او مښوکو کې د نخود په اندازه وړې وړې تیږې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدل کېدې[8]. د ابرهه پر سرتېرو یې د تیږو غورځول پیل کړل، په هر ځای به چې تیږه لوېدله هغه ځای به یې سوری کاوه.
ها او هو پیل شوه او د ابرهه سرتېرو به یوې او بلې خواته تېښته کوله او یو او بل به یې تر پښو لاندې کول، ابرهه هم ونه ژغورل شو، ټول ځان یې سوری – سوری شوی و.
د الله (ج) په امر باران په ډېرې تیزۍ سره ورېدل پیل کړل او د ابرهه د لښکرو پاتې شوي کسان یې هم له ځانه سره یوړل.
قرآن کریم دا پېښه د فیل به سورت کې داسې بیان کړې ده:

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ (۱) أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ (۲) وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْراً أَبَابِيلَ (۳) تَرْمِيهِم بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ (۴) فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ (۵)

ژباړه: ودې نه لیدل، چې ستا رب د فیل (هاتي) له خاوندانو سره څه وکړل؟ آیا د هغو پلان یې ورشنډ نه کړ؟ او (چې) سېل سېل مرغان یې پرې راوستل، هغوی به یې د پخې شوې ختې په کاڼو وویشتل، اخر یې خوړل شوو وښو غوندې کړل.

قرآن کریم د فیل په سورت کې له هغو تیږو څخه یادونه کوي، چې د ابابېلو (مرغانو) له خوا به د ابرهه پر لښکرو غورځېدلې، آیا دا تیږې د نیوترون له بم سره ورته و الی نه لري؟
لکه څنګه چې د نیوترون بم استوګنځي نه خرابوي او یوازې په انسانانو تاثیر کوي، همدغسې هغه تیږې، چې الوتونکو به غورځولې، کعبې شریفې ته یې هېڅ زیان ونه رساوه او یوازې یې د ابرهه لښکر له منځه یووړ. داسې نه ده، چې هغه تیږي د نیوترون بمونه ول؛ خو د نیوترون بم ته یې یوه اشاره ده؛ یانې د نیوترون د بم د جوړېدا ډول یې ښوولی. اوسنیو انسانانو له ډېرو زیارونو او کړاونو ګاللو وروسته د نیوترون بم کشف کړ.
د نیوترون د بم زیان یوه بېله موضوع ده، زموږ دین د هغو څیزونو له ګټې اخیستلو څخه هر وخت مخنیوی کړی، چې انسانانو ته زیان رسوونکی وي؛ خو د هر هغه شي په ګټې اخیستلو یې امر کړی، چې نورو انسانانو ته ګټور وي.

[8]– هر الوتونکي درې وړې تیږې درلودې، چې یوه یې په مښوکه او دوه نورې یې په پنجو کې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغه اور چې ونه سوځېده

نمرود د یوه غټ اور د جوړېدو امر ورکړ، میدان یې د خسو او لرګیو د غونډیو په څېر جوړ کړ او یوه ورځ یې لرګیو او خسو ته اور ورکړ، د اور شغلې او سپرغۍ به تر ډېرې لوړې تللې او ابراهیم (ع) یې د اور دننه وروغورځاوه.

آیا یخچال پېژنئ؟ له برېښنا سره کار کوي، هر شی یې، چې دننه کېښوول شي یخ او ساړه یې ساتي او د شیانو په تازه پاتې کېدو کې مرسته کوي.
آیا هغه جامې پېژنئ، چې د اور ضد دي؟ له دغو جامو څخه د اطفایې کسان ګټه اخلي، دهغو نوم (امیانټ) دی او له یوې نه سوځېدونکې مادې څخه جوړېږي. د اطفایې کسان هغه اغوندي او په ډېرې اسانۍ سره د اور ځای ته ورننوځي، کله چې په اور کې د قدم وهلو خبره رامنځ ته کېږي؛ نو د ابراهیم (ع) کیسه را په یادېږي.
دا کیسه په قرآن کریم کې داسې راغلې ده:
د بابُل خلکو د ستورو او بُتانو عبادت کاوه، د هغه ځای د ټولواک نوم نمرود و او هغه یو شتمن او عیاش انسان و. نعوذ باالله خپل ځانته به یې خدای وایه.

کوم فقیران او مسکینان به، چې هغه ته راتلل؛ نو له هغوی څخه به یې پوښتنه کوله، چې ستاسې خدای څوک دی؟ چا به چې ورته ویل، ته مې خدای یې، هغه ته به یې خوراکي توکي ورکول او چا به، چې ورته وویل، زما خدای پاک الله (ج) دی، هغه به یې ځوراوه ، واهه او زیان به یې ورساوه.
الله (ج) ابراهیم (ع) دوی ته د پیغمبر په توګه راواستوه، یوه ورځ ابراهیم (ع) بُتخانې ته ورننوت او ټول بُتان یې د تبر په وسیله مات کړل او تبر یې تر ټولو غټ بُت په غاړه کې ځوړند کړ.
خلکو پوښتل، چې دا بُتان چا مات کړي دي؟
ابراهیم (ع) تر ټولو غټ بُت ته اشاره وکړه او ویې ویل: وګورئ هغه مات کړي دي او تر اوسه یې تبر په غاړه کې پروت دی. د بت عبادت کوونکو به ویل: هغه خپله پیدا کړل شوای دی. ابراهیم (ع) ورته وویل: که داسې وي؛ نو ولې د هغه بُت عبادت کوئ، چې هېڅ یې هم پر وس نه دي پوره او آن خپله ساتنه هم نه شي کولای. ټول خلک غلي شول او نمرود یې له دې موضوع نه خبر کړ. نمرود ابراهیم (ع) زندان ته واچوه او د هغه د وژلو اراده یې وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نمرود د لوی اور د تیارولو امر ورکړ، میدان یې د خسو او لرګیو د غونډیو په څېر جوړ کړ؛ یانې له لرګیو او خسو څخه یې ډک کړ او یوه ورځ یې لرګیو او خسو ته اور ورکړ، د اور شغلې او سپرغۍ به تر آسمانه پورې تللې او ابراهیم (ع) یې د ټال په وسیله د اور منځ ته وروغورځاوه.

خو الله (ج) هر شی لیده او په هر شي پوهېده، پرې یې نه ښوول، چې خپل محبوب پیغمبر یې مغلوب شي او اور ته یې داسې امر وکړ: (۶۸) قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْداً وَسَلَاماً عَلَى إِبْرَاهِيمَ (۶۹)

ژباړه : موږ وویل: اې اوره! پر ابراهیم سوړ او سلامت شه.

لیدونکو به په ډېر حیرانتیا سره اور ته کتل؛ ځکه چې د اور دننه به ابراهیم (ع) خندل، لکه څنګه چې اور ته امر شوی و، اور نه سوځېده، ځینو لیدونکو د دې معجزې پر لیدلو سره له نمرود نه مخ واړوه او پر الله (ج) یې ایمان راووړ.

عالمانو له دې معجزې، چې په قرآن کریم کې ذکر شوې ده، ډېر شیان زده کړل؛ معجزه یې ځکه ترسره کولای نه شوه، چې پیغمبران نه دي؛ بلکې آیا د اور ضد جامې نه شي جوړولی؟ آیا اور په یوې داسې سړېدونکي یا یخوونکې وسیلې نه شي بدلوی؟ چې په هغه لاره کې قرآن کریم اشاره هم کړې ده، وروسته له ډېرو کلونو زیار څخه یې سمه او ګټوره پایله لاسته راوړه. څنګه؟

که ځیر شو؛ نو الله (ج) اور ته (یخ او سلامت اوسه) ویلي دي؛ ځکه چې اور نه یوازې په خپلې ګرمۍ سره سوځي؛ بلکې په سوړوالي یا یخوالي هم سوځي.

په ژمي کې، چې واښه یخ وهي، موږ له ځانه سره وایو، چې بوټي یا واښه سوځېدلي دي، په اصل کې واښه یا بوټي همداسې وي؛ لکه چې د اور په وسیله سوځول شوي وي، هغه اور، چې په خپل سوړوالي یا یخوالي سوځي، خپل شا و خوا ته ګرمي شیندي یا حرارت نه خپروي؟ او د دې پرعکس کېږي، چې د خپلې شا او خوا ګرمي راغونډوي او د خپل شا وخوا نور شیان یخوي او یا ورنه یخ جوړوي.

آیا تاسې ته یخچال نه دریادېږي؟ آیاپوهېږئ، هغه برېښنا، چې د یخچال موتور په کارېدلو راولي، هغه یو ډول اور دی، که انسان ورسره اړیکه ونیسي سوځوي یې؛ خو دا اور د یخچال دننه اوبه په یخ بدلوي؛ یانې اور د یخچال دننه سوړ یا یخ دی. له بله پلوه د ښناک او خوراک شیان ساړه؛ یانې ښه ساتي.

په یخچال کې د برېښنا اور د سوځېدلو په حالت کې دی، په دغه ایت شریف کې یخچال ته هم اشاره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه ځنګه چې د نمرود اور د ابراهیم (ع) بدن ونه سوځاوه، د هغه جامې يې هم ونه سوځولې.
عالمانو له دې پېښې څخه دا پایله ترلاسه کړه، چې (امیانت) یا اور ضد جامې يې جوړې کړې.
د اطفايې د کسانو جامې له یو ډول اور ضد مادې څخه جوړې شوي، چې (امیانت) نومېږي. الله
(ج) چې کله نړۍ پیداکوله؛ نو دا ماده يې هم ورسره پیداکړه او په خپل کتاب کې يې د هغه په
تړاو یوه پېښه بیان کړه، چې نور بندګان يې زيار وباسي او کوښښ وکړي.
په لنډه توګه ویلای شو، چې ننني پرمختګ ټول د قرآن کریم د ارشاداتو په رڼا کې شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د حضرت موسی (ع) امسا

بني اسرائيل د تيه له دښتې څخه په تنګ شوي وو او کله به، چې لمر راښکاره شو دوی به ګرمۍ سوځول او دوزخ به يې ورپه ياداوه.

حضرت موسی (ع) په مصر کې ژوند کاوه او د بني اسرائيلو (د يعقوب د اسحاق زوی د اولادونو) لپاره د پيغمبر په توګه را استول شوای و.
په هغه وخت کې د مصر ټولواك فرعون و، چې د خدايي دعوه يې کړې وه او له بني اسراييلو څخه به يې د غلامانو او مزدورانو په توګه کار اخيسته.
موسی (ع) به فرعون او فرعونيانو ته د سمې لارې ښوونه کوله او هغوی به يې پر الله (ج) ايمان راوړلو ته هڅول؛ خو فرعون نه يوازې، چې مسلمان نه شو؛ بلکې چا به چې پر خدای (ج) ايمان راوړ هغه به يې تر بېلابېلو شکنجو لاندې راوسته.
موسی (ع) د فرعون پرضد ډېرې مبارزې وکړې او په پای کې يې يهودان د هغه له ظلم څخه وژغورل.
دا د آزادۍ په لور لومړی ګام و، موسی (ع) غوښتل، چې اسراييل بېرته خپل آر ټاټوبي (بيت المقدس) ته راستانه شي او په آزاده توګه خپل ژوند تېر کړي او د همدې لپاره يې يهودانو ته وړانديز وکړ، چې وروسته له يو څه مبارزې به تاسې دخپلو آرو ځايونو څښتنان شئ؛ خو يهودانو سرغړونه وکړه.
او ويل يې:
اې موسی(ع) موږ له تاسې سره نه ځو او له هېڅ چا سره جګړه هم نه کوو، همدلته آرامه يو او که ډېر د جګړې مينه وال ياست؛ نو له خپل پروردګار سره دې يو ځای جنګ وکړه.
د هغوی دغه ښکاره او څرګند انکار موسی (ع) عصباني کړ او ډېر ځورېده، چې د خپلو خلکو لپاره کار کوي، زيار باسي؛ خو هغوی يې خبره نه اوري، ځکه چې هغوی پر الله (ج) باندې پوره باور نه درلود او د موسی (ع) خبرو ته يې هېڅ غوږ نه نيوه.
حضرت موسی (ع) به ډېر زيار ويسته، چې هغوی وپوهوي؛ خو هغوی هېڅ ځان نه پوهاوه او موسی (ع) خپل لاسونه پورته کړل او ويې ويل:
اې خدايه! زما قوم زما خبرې نه اوري، هغوی راويښ کړه، د چا لپاره، چې نصيحت ګټه ونه کړه؛ نو هغوی ته مصيبت لازم دی، هغوی د يوه مصيبت او بلا په واسطه لارې ته راوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله (ج) د موسی (ع) دعا ومنله.
تر هغې ورځې پورې هغوی د موسی (ع) خبرې نه منلې او الله (ج) په دوی باندې وچکالي او قحطي راوستله، هغه اوبه چې پخوا به روانې وې، وروسته له هغه بندې شوې، بارانونه به وربدل، وروسته له دې ونه وربدل، بني اسراییل د تیه په دښته کې په تنګ شوي وو او کله به چې لمر راپورته کېده؛ نو دوی به له ګرمۍ نه سوځېدل او د تیه دښتې دوی ته دوزخ ورياداوه.
څلوېښت کاله یې په داسې ډول ژوند وکړ، وروسته له دې چې له موسی (ع) څخه یې ښښنه وغوښته او ورته یې وویل: موسی (ع) موږ ته اوبه پیدا کړه، که دې اوبه پیدا کړې ستا هره خبره منو او ته، چې هرڅه وایې له تاسره هرځای ته ځو.
حضرت موسی (ع) کلونه کلونه دې ورځې ته انتظار لاره، خپل زنګنونه یې په ځمکه ولګول او لاسونه یې د لوی څښتن دربار ته پورته کړل او ویې ویل:
اې زما لویه خدایه! د دې ورځې له راښوولو څخه ډېر شکرونه کوم، زما د خلکو د غوښتونو په اړه ته ښه پوهېږې او ته یې هره خبره اورې، موږ اوبه نه لرو، موږ ته په خپلې مهربانۍ سره اوبه راکړه.
الله (ج) وفرمایل:
اې موسی(ع)! خپله امسا په تیږه ووهه!

وَإِذِ اسْتَسْقَى مُوسَى لِقَوْمِهِ فَقُلْنَا اضْرِب بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ فَانفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْناً قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ كُلُواْ وَاشْرَبُواْ مِن رِّزْقِ اللَّهِ وَلاَ تَعْثَوْاْ فِي الأَرْضِ مُفْسِدِينَ (۶۰)

ژباړه: او کله چې موسی (ع) د خپل قوم لپاره اوبه وغوښتې، نو موږ وویل: په خپلې کونتۍ دې دغه ګټ ووهه! نو بیا دولس چینې ترې وخوټېدې، هرې ډلې خپل اوبه خور وپېژندو، د الله (ج) د رزق نه خورئ او څښئ، خو په ځمکه کې فسادیان مه ګرځئ.

موسی (ع) د ټولو خلکو په مخ کې خپله امسا په تیږه ووهله او له تیږې نه دولس سورې جوړ شول، چې له هر سوري څخه د اوبو فوارې پیل شوې. اوبه د دولسو قبیلو په منځ کې ووېشل شوې او هرې قبیلې به د خپلې برخې له اوبو نه ګټه اخیسته او ټول د اوبو له قحطۍ نه وژغورل شول.
خدای (ج) دا پېښه په قرآن کریم کې د بقره سورت په ۶۰ آیت کې بیان کړې ده او دا آیت هم د نورو آیتونو په څېر د علم او روښنایي په لاره کې رڼا اچولې ده:
اې انسانانو! ستاسې لپاره مې تر ځمکې لاندې بې شمېره ذخیرې ایښې دي، د موسی (ع) معجزه د نمونې په څېر درواخلئ، هغه ډول ماشینونه جوړ کړئ، چې کلکې تیږې سورۍ کړي. په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځمکه کې کښته لاړ شئ، هلته پټ شیان، لکه: اوبه، اوسپنه، مس، پطرول، کروم، سرب او نور راوباسئ او له دغو توکو نه ګټه وا خلئ.
عالمانو د دغې معجزې په رڼا کې ډېر شیان جوړ کړل، هغوی د خپلو جوړو شویو وسایلو څخه کار واخیسته او د ځمکې تل ته ورکښته شول او ځمکه یې سوری کړه، له هغه څخه یې ګټه واخیسته.

د ژور مېچ (سونداژه[9]) په وسیله باندې یې له ځمکې څخه پطرول راووېستل، تیږې یې ماتې کړې او له هغو څخه یې کانونه را وایستل او له بېلابېلو وسایلو څخه یې ګټنه کړې، چې په قرآن کریم کې ورته اشاره شوې ده.
په داسې حال کې چې خدای (ج) د قرآن کریم په بېلابېلو آیاتونو کې د داسې شیانو د ګټنې د ډول په اړه او یاهم په ځینې طبیعي پېښنو کې موږ ته راښوولي دي او انسانانو تر ځمکې لاندې د دغو ټولو شیانو څخه ګټنه نه وه کړې؛ نو آیا دا یوه لویه تېروتنه نه ده؟

[9]- لاتیني نومونه ده چې ژور مېچ یې ټکي پرتکي مانا کیږي خو موخه یې هغه ډاګه یا خاده ده چې په اتومات ډول له څاه تېل راباسي او شپه او ورځ چالان وي لکه زموږ په وروسته پاتې هېوادو کې چې اوبه پرې راباسي په یوه سرکې یې ډبرې تړلې وي او بل سرکې یې سلواغه یا ډولچه او په لږ زور اوبه راباسي، چې موږ او تاسې ورته په وطنۍ ژبه دار او یا څرخ وایو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله

قرآن کریم  هر ډول فن او صنعت ته اشاره کړې ده.
هغه خدای (ج)، چې پوهېږي، په کوم وخت کې څه شی پېښېږي، خپل کتاب یې داسې را استولی دی، چې په هروخت کې د ټولو انسانانو لپاره د ګټې وړ وي. د موندنو او نوښتونو په ترسره کېدلو سره انسانانو ته دا معلومه شوه، چې دا کتاب یو الٰهي کتاب دی او دغو موندنو او نوښتونو ته قرآن کریم  لا دمخه اشاره کړې وه.
مسلمانانو او کافرانو دا خبره منلې، چې قرآن کریم  د الله (ج) کتاب دی، د بېلګې په ډول مشهور لامبوزن او فرانسوی څېړونکی کوسټو د خپلې مسلمانۍ کیسه داسې بیانوي:
د مدیترانې بحیرې ځانګړنې بېلې دي، لکه ګرمې، تروې او ټینګې دي او د جبل الطارق د آبنا په وسیله د اقیانوس اطلس سره یو ځای کېږي؛ خو د اقیانوس اطلس ګرمي، ټینګوالی او تریو والی بېل دی؛ یانې له یو او بل نه توپیر لري، په داسې حال کې چې دا دوه بحرونه (مدیترانه او اطلس) میلیونونه او زرګونه کلونه کېږي، چې یو ځای بهېږي، باید د دوی ټولې ځانګړنې یو شان وي. دا پټه پرده د دواړو بحرونو په منځ کې خنډ وه او دا پېښه مو په نورو بحرونو کې هم ولیدله.
له ځانه سره مې وویل: د ابحارو دا ځانګړنې یې ۱۴۰۰ کاله وړاندې په قرآن کریم  کې بیان کړې دي او په آیتونو کې یې داسې ښوولې ده:

مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ (۱۹) بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ (۲۰)

ژباړه : هغه دوه سیندونه (داسې) بهولي، چې سره نښتي دي، خو ترمنځ یې یوه پرده ده، چې یو پر بل نه ګډېږي.

او همدارنګه د فرقان سورت په ۵۳ آیت شریف کې داسې راغلي دي:

وَهُوَ الَّذِي مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هَذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهَذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخاً وَحِجْراً مَّحْجُوراً (۵۳)

ژباړه : او دی هماغه دی، چې دوه سمندرونه یې خوشې کړي، چې دا یو ډېر خوږ – خوندور دی او دا بل مالګین – تریخ او د دواړو ترمنځ یې یوه پرده واچوله او یو بند چې منع کړی شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشهور فرانسوی لامبوزن او څېړونکی د دغو ټولو لاسوندونو (دلیلونو) په مقابل کې داسې وايي: ((هرهغه شی، چې ننني علم پيدا کړی، هغه الله (ج) ۱۴۰۰ کاله مخکې په قرآن کريم کې بيان کړی دی، زه هم ګواهي (شهادت) ورکوم، چې قرآن کريم د الله (ج) کتاب دی او له دې ويلو سره مسلمان شو.

هو! قرآن کريم د ټولو علمونو کيلي ده، هغه معجزې، چې الله (ج) پر خپلو پيغمبرانو باندې لورولې دي، هغه ټولې د علم لارې راښيي، په موندنو او نوښتونو يې رڼا اچولې ده او له بله پلوه يې انسانان کار کولو او زيار ايستلو ته متوجه کړي دي او تر ټولو غوره لار همدا ده.

په پای کې له تاسې ټولو درنو لوستونکو څخه د خپل ځان، زما کورنۍ او ټولې اسلامي نړۍ د ښېګڼې لپاره د دعا غوښتونکی يم.

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**